DA AFGHANISTAN BANK

# د افغانستان بانک




# کلنی
# راپور
# سالانه
# ۱۳۹۰

# د افغانستان بانک

# کلنی راپور

# سالانه

# ۱۳۹۰

www.centralbank.gov.af

## د افغانستان بانک کلنی راپور


د اسنادو او اړیکو عمومي آمریت

د خپرونو مدیریت

چمتو کوونکی: عبداللطیف بایاني

ایډیټر: محمد کبیر کاووسي او یما عفیف

عکس: زیرک ملیا

ژباړه: عین الله عیان



پته: د افغانستان بانک، ابن سینا واټ، کابل – افغانستان

ټلفن: 2103815 -2104361 -020

بریښنا لیک: info@centralbank.gov.af

ویب پاڼه: www.centralbank.gov.af

# د افغانستان بانک مشرتابه پلاوی



د افغانستان بانک د ټولو رییس
نور الله دلاوری



د افغانستان بانک لومړی مرستیال
خان افضل هده وال



د افغانستان بانک دویم مرستیال
الحاج محمد عیسی طراب

# لړليک


د افغانستان بانک د ټولو رييس پيغام ........................................ الف

۱- پولي سياست................................................................ ۱

- د پولي تورم نرخ ........................................................ ۱
- اقتصادي وده ........................................................... ۲
- د مبادلې د نرخ رژيم ..................................................... ۲
- د افغانستان بانک اسعاري زيرمې ............................................ ۴
- د نقدينه ګۍ کنټرول ...................................................... ۴
- د کريدت د تمديد اسانتيا ................................................ ۶
- د افغانی دود ............................................................ ۷
- د افغانستان بهرنی سوداګري .............................................. ۸

۲- د افغانستان بانکی نظام ...................................................... ۱۰

- ټوليزه شتمنی ........................................................... ۱۱
- ټوليزه پورونه .......................................................... ۱۲
- د بانکدارۍ نظام د ټوليزه پورونو ډله بندي .............................. ۱۲
- ټوليزه امانات .......................................................... ۱۶
- ټوليزه پانګه ........................................................... ۱۷
- ګټه ..................................................................... ۱۷
- سياليت (نقدينه ګۍ) ..................................................... ۱۸
- د بهرنيو اسعارو پرانيستی وضعيت ........................................ ۱۸
- د ريسک منجمنت اداره (مالي خطرات) ...................................... ۱۹
- د افغان اماناتو د بيمې اداره ........................................... ۱۹

۳- د تادياتو نظام .............................................................. ۲۱

- نړيوال تاديات .......................................................... ۲۱
- د نمايندګيو ترمنځ تاديات ............................................... ۲۱
- د بانکونو ترمنځ تاديات ................................................. ۲۲
- د چکونو د تسويې برخه ................................................... ۲۲

۴- د بازار عمليات .............................................................. ۲۳

- بيه لرونکو پاڼی ( کپيټل نوټ) ............................................ ۲۳
- ليتر اف کريدټونه ....................................................... ۲۴
- د بهرنيو اسعارو ليلام ( آکشن) ........................................... ۲۴

۵- مالي صورت حساب .............................................................. ۲۵

- مالی صورت حساب ......................................................... ۲۵
- د عوايدو صورت حساب ..................................................... ۲۶

۶- اداره او پراختيا ............................................................. ۲۷

- د حقوقي مشاوريت دفتر ................................................... ۲۷
- بشري منابع ............................................................. ۲۷
- خدمات او ودانی ......................................................... ۲۸
- معلوماتي تکنالوژي ....................................................... ۲۸

# د افغانستان بانک د لوی رئیس پیغام



د افغانستان بانک د عالي شورا او مشرتابه پلاوي په استازيتوب وياړم چې د افغانستان بانک د کړنو او سیاستونو کلنی راپور، تاسو ته وړاندې کوم. دا راپور په ۱۳۹۰ هجري لمريز کال کې د اقتصادي ودې تر څنګ، پولي سیاست، د بازار عملیات، وده او پراختیا او همدارنګه د افغانستان د بانکي نظام کړنې لکه، د بانکي نظام شتمنی، ټولیزه امانات او پورونه او داسې نور اداري پرمختګونه رانغاړي.

د ۱۳۹۰ هجري لمریز کال په پیل کې د عمومي تورم نرخ ۱۷.۸۱ سلنه ؤ چې د همدې کال په پای کې ۱۱.۲۶ سلنې ته را ټیټ شو. په اوسط ډول د ۱۳۹۰ کال په پای کې د پولي تورم نرخ په سلو کې ۵.۸۳ ؤ چې دا ټیټوالی د افغانستان بانک له سترو بریالیتوبونو څخه شمېرل کیږي.

د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې د نړیوالو مساعدتونو د کمیدو او د اټکل شوې کچې په نسبت د وچکالی له امله کرنیزو حاصلاتو کمښت لامل شو چې د هېواد اقتصادي وده د ۱۳۸۸ کال له ۱۷.۲ سلنې څخه په ۱۳۸۹ کال کې ۳.۲ سلنې را ټیټه شي. د پیسو نړیوال صندوق لخوا ۱۳۹۰ کال لپاره د هېواد اقتصادي وده په سلو کې ۵.۷ اټکل شوې ده.

د افغانستان بانک په ۱۳۹۰ کال کې وتوانید چې د افغانی مبادلوي نرخ له نوساناتو څخه مخنیوی وکړي. د افغانی مبادلوي نرخ د امریکایي ډالرو په وړاندې د ۱۳۹۰ کال په اوږدو کې د ۴۵.۳۰ او ۴۹.۷۰ افغانیو ترمنځ په نوسان کې ؤ، د همدې کال په پای کې ۴۹.۶۲ افغانی ته ورسید. همدارنګه د همدې کال په پای کې د افغانی د مبادلې نرخ د پاکستانی کلدارو په وړاندې ۲ سلنه ټیټوالی او ایراني تومانو په وړاندې ۵۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د افغانستان بانک د اسعاري زیرمو کچه په ۱۳۸۹ کال کې شاوخوا ۵.۳۷۳ ملیارده امریکایي ډالر وه، د ۱۳۹۰ کال په ورستیو کې دا کچه شاوخوا ۶.۲۵۹ ملیارده امریکایي ډالرو ته ورسیده چې ۸۸۶ ملیونه امریکایي ډالره یعنې ۱۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي؛ چې د دې کچې زیاتوالی د افغانستان بانک له سترو لاسته راوړنو څخه ګڼل کیږي.

د بانکي نظام ټولیزې شتمنی ۲۰۸.۵۲ ملیارده افغانی (۴.۱۸ ملیارده ډالرو) ته رسیږي چې د تیر کال له ۲۰۳.۸۴ ملیارده افغانی (۴.۴۸ ملیارده ډالرو) څخه ۲.۲۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د شتمنیو تر ټولو زیاته وده دولتي بانکونو درلودلې چې د تیر کال په پرتله ۱۰۱.۱۵ سلنه وده ښکاره کوي، وروسته د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو شتمنیو شاوخوا ۱۵.۳۰ سلنه وده کړې ده، په داسې حال کې چې د خصوصي بانکونو شتمنی په سلو کې ۲۴.۰۷ ټیټوالی ښکاره کوي، چې دا ټیټوالي په ټولیزه توګه د کابل بانک دیوالي کیدو له امله په ګوته شوی دی.

د افغانستان بانک په ۱۳۹۰ هجري لمریز کال کې د مالیې وزارت سره په همغږۍ د افغانستان لپاره یوه درې کلنه برنامه (۲۰۱۰/۱۱-۲۰۱۳/۱۴) ترتیب او د پیسو نړیوال صندوق ته یې وړاندې کړه چې د ۲۰۱۱ کال د نومبر په ۱۵ نېټه د کریډت د تمدید د اسانتیا برنامې لاندې ۱۳۳.۶ ملیونه امریکایي ډالره د افغانستان اسلامي جمهوریت لپاره منظور شوې. د دې برنامې موخې د جوړښتي اصلاحاتو د تطبیق په ګړندیتوب او د لوي اقتصاد په ټیکاو په ځانګړې توګه پر لا پاینده ودې او د نړیوالې ټولنې له وتلو څخه وروسته د احتمالي ننګوونو په وړاندې پر چمتوالي ټینګار کوي چې افغانستان څنګه کولای شي په سمه توګه خپل پولي او مالي سیاستونه همغږي او بیا یې طرح او پلي کړي. همدارنګه دا برنامه د افغانستان د ملي پرمختیایي پلان سره په همغږۍ د بې وزلۍ د کموالي په موخه تدوین شوې ده.

همدا ډول د افغانستان بانک د خپلو کاري چارو د پرمخ بیولو په موخه په ۱۳۹۰ کال کې د اداري پراختیا او پرمختیا له پلوه زیاتې لاسته راوړنې درلودلې دي چې د افغانستان بانک او د هېواد د مالي نظام د موخو او کارکردګیو په پلي کولو کې یې اغیزناکه رول لوبولی دی. په ټولیزه توګه دې بانک په اداري برخو، قانون او مقرراتو، معلوماتي تکنالوژۍ، مالي صورت حسابونو او داسې نورو برخو کې ښې لاسته راوړنې درلودلې دي. زه د افغانستان بانک د ټولو کارکونکو له زیار او هاند څخه د زړه له کومې مننه کوم او هیله لرم چې د افغانستان بانک د ټولو کارکونکو په دوامداره هلو ځلو سره د افغانستان بانک د پرمختګ، پراختیا او پرمختیا پوړۍ شاته پریږدي او د بیو په ټیکاو، د مالي نظام په پراختیا او د پولي سیاستونو په رغاونه کې ښه رول ولوبوي.

**په درنښت**

**نور الله دلاوري**

**د افغانستان بانک د ټولو رئیس**



# د افغانستان بانک

# پولي سیاست



# پولي سیاست

## د پولي تورم نرخ

په یو اقتصاد کې د پولي تورم عمده لامل د نقدینه ګۍ د کچې زیاتوالی ګڼل کیږي. باید د نقدینه ګۍ د زرق (داخلونې) منابع وپیژندل شي چې په افغانستان کې د دولت عادي او پرمختیایي لګښتونه، د هېواد په اقتصاد کې د نقدینه ګۍ د داخلونې (زرق) عمده لاملونه شمېرل کیږي.

د افغانستان بانک د احتیاطي پیسو او په ګردښت کې د پیسو د کچې وده د اسعارو او بیه لرونکو پاڼو د پلور له لارې کنټرولوي څو د پولي تورم له ناوړه اغېزو څخه مخنیوی وشي. یعنې کولای شو ووایو چې پورته وسایلو تر یوه حده پورې د کورني تورم عوامل مهار کړي دي. خو له هغه ځایه چې افغانستان یو خالص واردونکی هېواد ( واردات یې له صادراتو څخه زیات) دی نو له همدې امله وارداتي تورم د کورنیو بیو په کچه د پام وړ اغیزې پرېښودلای شي.

د ۱۳۸۲ – ۱۳۸۵ کلونو په اوږدو کې، په افغانستان کې د پولي تورم د نرخ منحني خپل نزولي بهیر پیل کړ او له ۳۰ سلنې څخه ۴ سلنې ته راټیټ شو. خو د ۱۳۸۶ کال له پیل څخه راپدیخوا، په نړیواله کچه د خوراکي توکو او سوند موادو د نرخ زیاتوالي د هېواد په کورني تورم کې انعکاس موندلی دی.

د خوراکي او ناخوراکي توکو د وزن سنجش او ټاکل د لګښت کوونکو د بیو شاخص په ټوکرۍ کې توپیر لري. د خوراکي توکو وزن شاوخوا ۶۱ سلنه او د نا خوراکي توکو وزن تقریباً ۳۹ سلنه په پام کې نیول شوی دی. کولای شو په ساده دول استنباط کړو چې په خوراکي توکو کې معمولي بدلون به د عمومي تورم په نرخ باندې پراخې اغیزې ولري.

د ۱۳۹۰ کال په پیل کې د عمومي تورم نرخ ۱۷.۸۱ سلنه ؤ چې د همدې کال په پای کې ۱۱.۲۶ سلنې ته را ټیټ شو. په داسې حال کې چې د پولي تورم منځنی نرخ د ۱۳۹۰ کال په پای کې ۵.۸۳ سلنې ته رسیده. د افغانستان بانک د پولي انقباضي سیاست په غوره والي او د پولي سیاست له وسایلو څخه د ګټې اخیستنې په پایله کې توانیدلی چې د پولي تورم نرخ د یو کال په ترځ کې له دوه رقمي عدد څخه یو رقمي عدد ته راټیټ کړي[۱] چې دا کار د افغانستان بانک له سترو بریالیتوبونو څخه ګڼل کیږي.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د احصایې مرکزي اداره د ۱۳۹۱ کال د وري له میاشت څخه د لګښت کوونکو بیو د توکو د شاخص د ټوکرۍ لا بډاینې لپاره له سره بیا کتنه کوي. یعنې په یاد شوي توکرۍ کې به نوي اقلام او خدمات شامل شي او د خوراکي او نا خوراکي اقلامو وزن به هـــم بدلون وکـــړي څو له

(۱) ګراف: ۱۳۸۴ څخه تر ۱۳۹۰ کال پورې د پولي تورم نرخ




(منبع: د احصائیې مرکزي اداره)

۱– یو رقمي عدد د پولي تورم نرخ لپاره یوازې د۱۳۹۰ کال په ۱۱ میاشتو کې په پام کې نیول شوی دی.

اقتصاد څخه ښه انځور وړاندې شي. سربېره پردې، د یوې متوسطې کورنۍ عاید به بیا سنجش شي څو واقعیتونه په ښه توګه انعکاس ومومي.

**اقتصادي وده**

د تیرو لسو کلونو په اوږدو کې افغانستان نسبتاً ښه حقیقي اقتصادي وده درلودلې ده چې عمده لامل یې د اقتصادي کړنو زیاتوالی او نړیوال مساعدتونه ګڼل کیږي.

د کریډت د تمدید اسانتیا برنامې سره سم، په نړیوالو مالي مرستو کې له احتمالي کموالي سره سره، د هېواد حقیقي اقتصادي وده د راتلونکي درې کلونو لپاره ۶ – ۷ سلنې تر منځ اټکل شوې ده. دا پاینده حقیقي اقتصادي وده به په نا کرنیز سکتورونو لکه: د صنعت سکتور، د خدماتو سکتور او د هېواد په کانونو کې پانګه اچونې کې پراختیا ورکړل شي. باید یادونه وشي چې د وروستیو کلونو په اوږدو کې د هېواد په اقتصاد کې د صنعت او خدماتو سکتورونو ونډه تل په زیاتیدو او د کرنیز سکتور وده د اوبو او هوا د شرایطو په پام کې نیولو سره په نوسان کې ده.

د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې د نړیوالو مساعدتونو د کمیدو او د اټکل شوې کچې په نسبت د وچکالۍ له امله کرنیزو حاصلاتو کمښت لامل شو چې د هېواد اقتصادي وده د ۱۳۸۸ کال له ۱۷.۲ سلنې څخه په ۱۳۸۹ کال کې ۳.۲ سلنې را ټیټه شي. د پیسو نړیوال صندوق لخوا ۱۳۹۰ کال لپاره د هېواد اقتصادي وده په سلو کې ۵.۷ اټکل شوې ده.

لاندې جدول په تېرو څو کلونو کې د هېواد د اقتصادي ودې مهم شاخصونه وړاندې کوي

(۱) جدول

| کلونه | ۱۳۸۱ | ۱۳۸۲ | ۱۳۸۳ | ۱۳۸۴ | ۱۳۸۵ | ۱۳۸۶ | ۱۳۸۷ | ۱۳۸۸ | ۱۳۸۹ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د ناخالصه ملي تولیداتو د واقعي ودې سلنه(٪) | ۲۸.۶ | ۱۴.۳ | ۹.۴ | ۱۴.۵ | 11.2 | ۱۶.۱ | ۲.۳ | ۱۷.۲ | ۳.۲ |
| د ناخالصه ملي تولیداتو اسمي وده (ملیارد افغانۍ) | ۱۸۳ | ۲۲۵ | ۲۸۶ | ۳۳۸.۵۴۰ | ۴۰۷.۶۷۲ | ۵۱۸.۶ | ۵۴۱.۱ | ۶۳۲.۷ | ۷۴۶.۹ |
| د ناخالصه ملي تولیداتو اسمي وده (ملیارد ډالر) | ۴،۶۰ | ۴.۶۰ | ۵.۹۵ | ۶.۸۵۲ | ۸.۱۸۶ | ۱۰.۴۳۱ | ۱۰.۶۴ | ۱۲.۸۷ | ۱۶.۳ |
| د پولي پړسوب نرخ، د کال پای،(د هر کال د بدلونونو فیصدي) | ۲۶.۶ | ۱۰.۱ | ۱۴.۹ | ۹.۵ | ۴.۷۷ | ۲۰.۷۱ | ۳.۲ | -۵.۱۵ | ۱۶.۶۲ |
| د پولِي پړسوب نرخ( د کال اوسط) | ۵.۱ | ۲۴.۱ | ۱۳.۲ | ۱۲.۳ | ۵.۲ | ۱۲.۹۴ | ۲۶.۸ | -۱۲.۲ | ۷.۷ |
| ملي سرانه عاید (امریکایي ډالر) | ۲۰۱ | ۲۱۵ | ۲۵۳ | ۲۹۰ | ۳۴۰ | ۴۲۶ | ۴۲۶ | ۵۰۵ | ۶۲۹ |

منبع: د احصایې مرکزي اداره / د افغانستان بانک

## د مبادلې د نرخ رژیم

د افغانۍ د مبادلې رژیم اداره شوی لامبوزن رژیم دی. د مبادلې نرخ د بازار د میکانیزم (عرضه او تقاضا) لخوا ټاکل کیږي. که څه هم عملاً د افغانۍ مبادلوي نرخ د افغانستان بانک موخه نه جوړوي، خو بې له شکه پر اقتصادي شاخصونو د مبادلې د نرخ د نوساناتو منفي اغیزو ته متوجې دی او هڅه کوي چې د افغانۍ ارزښت په منل شوې کچه ثابت وساتي او له سختو نوساناتو یې مخنیوی وکړي.

د همدې لپاره د بهرنیو اسعارو د پلورلو څخه ثانوي موخه، د بهرنیو اسعارو په وړاندې د افغانۍ مبادلوي نرخ د زیاتو نوساناتو کموالی دی. د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک لومړنۍ موخه به په بلا انحراف او جدي توګه تعقیب شي.

د مبادلې نرخ په بازار کې په آزاد ډول ټاکل کیږي او د افغانۍ د مبادلوي نرخ په ټاکلو کې یو اغیز اچوونکی لامل د بهرنیو اسعارو اونیزه پلور ( افغانۍ لپاره تقاضا) ګڼل کیږي. همدارنګه د افغانستان بانک لخوا د بهرنیو اسعارو د اونیزه پلورلو اوسط شاوخوا ۳۰.۵ ملیونه امریکایي ډالره دی. د افغانستان بانک د ۱۳۹۰ کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه ۲،۶۸۴،۹۰۰،۰۰۰ امریکایي ډالره پلورلي دي.د ۱۳۹۰ کال په لومړیو کې د افغانۍ مبادلوي نرخ د یو امریکایي ډالر په وړاندې ۴۸.۴۸ افغانۍ ؤ چې د همدې کال په پای کې ۴۹.۶۲ افغانۍ ته ورسید. یعنې د ۱۳۹۰ کال په ترڅ کې د افغانۍ ارزښت د بهرنیو اسعارو په وړاندې ۱۰ سلنه ټیټوالي موندلی دی.

لاندې ګراف د ۱۳۹۰ کال په اوږدو کې د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلوي نرخ نوسانات ښکاره کوي. یعنې د کال په اوږدو کې د امریکایي ډالرو په وړاندې د مبادلې د نرخ منحني د ۴۵.۳۰ او ۴۹.۷۰ افغانیو تر منځ په نوسان کې ؤ.

(۲) ګراف د امریکایي ډالرو په وړاندې د مبادلې د نرخ




(۲)جدول په تیرو کلونو کې د افغانۍ د مبادلوي نرخ منځنی حد او په ګردښت کې د پیسو کچه وړاندې کوي:

| کلونه | ۱۳۸۲ | ۱۳۸۳ | ۱۳۸۴ | ۱۳۸۵ | ۱۳۸۶ | ۱۳۸۷ | ۱۳۸۸ | ۱۳۸۹ | ۱۳۹۰ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ اوسط حد | ۴۹.۴۸ | ۴۹ | ۴۷.۸ | ۴۹.۷ | ۴۹.۸۲ | ۵۰.۰۲ | ۴۹.۲۶ | ۴۵.۸ | ۴۶.۷۷ |
| په ګردښت کې د پیسو کچه، د کال پای (په ملیارد افغانۍ) | ۲۸.۲۷۲ | ۴۰.۵۳۸ | ۴۴.۴۳۳ | ۴۸.۸۸۴ | ۵۷.۹۳۱ | ۷۶.۸۰۷ | ۹۸.۶۹۰ | ۱۳۲.۴۰۷ | ۱۴۸.۳۷۹ |
| په ګردښت کې د پیسو کچه (٪) | ۴۲.۶ | ۳۶.۴ | ۱۵.۳ | ۱۲.۵ | ۱۷.۹ | ۳۰.۷ | ۲۸.۴۶ | ۳۴.۲۰ | ۱۲.۱۲ |

د ۱۳۹۰ کال په لومړیو کې یوه افغانۍ د ۱.۸۷۷۲۳ پاکستانۍ روپیۍ سره برابره وه چې د همدې کال په ورستیو کې یوه افغانۍ د ۱.۸۳۵۲۰ پاکستانۍ معادله وه. په بل عبارت د افغانۍ ارزښت د پاکستانۍ روپیۍ په وړاندې د کال په اوږدو کې ۲ سلنه کموالی موندلی دی. له بلې خوا د ۱۳۹۰ کال په لومړیو کې یوه افغانۍ ۲۴.۵۷۲۴ ایراني تومانو سره معادله وه چې د همدې کال په پای کې یوه افغانۍ د ۳۷.۷۳۵۸ ایراني تومانو سره معادله کیده. یعنې د یو کال په ترځ کې ایراني تومانو د افغانۍ په وړاندې خپل ۵۲ سلنه ارزښت له لاسه ورکړی دی.

همدا ډول د ۱۳۹۰ کال په اوږدو کې د پاکستانۍ روپیۍ او ایراني تومانو ارزښت د امریکایي ډالرو په وړاندې په ترتیب سره ۷ او ۶۷ سلنه ټیټوالی موندلی دی. د ۱۳۹۰ کال په ترځ کې ایراني تومانو د پاکستانۍ روپیۍ په پرتله چټکتیا خپل ارزښت د امریکایي ډالرو په وړاندې له لاسه ورکړی دی.

### د افغانستان بانک اسعاري زیرمې

باید یادونه وشي چې د اسعاري زیرمو زیاتوالی د پولي سیاست د ښه تطبیق، د افغانۍ د مبادلې نرخ د نوساناتو کنټرول او د هېواد د تادیاتو بیلانس د ثبات په برخه کې، مهم او بنسټیز رول لري.

د ۱۳۸۹ کال په پیل کې د افغانستان بانک د راټول شویو خالصو اسعاري زیرمو[۲] لپاره د ۶۸۰ ملیونه امریکایي ډالره وړاند وینه کړې وه. خو د افغانستان بانک وکړای شول چې خپلې اسعاري زیرمې ته د پام وړ زیاتې کړي.

د افغانستان بانک د اسعاري زیرمو کچه د ۱۳۸۹ کال په پرتله چې شاوخوا ۵.۳۷۳ ملیارده امریکایي ډالره کیده د ۱۳۹۰ کال په پای کې تقریباً ۶.۲۵۹ ملیارده امریکایي دالرو ته زیاتوالی موندلی دی. په بل عبارت د تیر یو کال په اوږدو کې شاوخوا ۸۸۶ ملیونه امریکایي ډالره چې په سلو کې ۱۶ زیاتوالی ښکاره کوي د هېواد په اسعاري زیرمو کې ور زیات شوي دي. د اسعاري زیرمو زیاتوالی د افغانستان بانک لپاره ستره لاسته راوړنه ګڼل کیږي.

(۳) ګراف

د افغانستان بانک بهرنی ناخالصې زیرمې

په ملیارد امریکایي ډالر




## د نقدینه ګۍ کنټرول

د افغانستان بانک له څو کلونو راهیسې یوازې په ګردښت کې د پیسو کچه د نقدینه ګۍ د شاخص په توګه ټاکله او د هر کال په پیل کې د پیسو د عرضې یا په ګردښت کې د پیسو د ودې وړاند وینه کوي. د هېواد په بانکي نظام کې د پرمختګونو او اقتصادي شرایطو په پام کې نیولو سره، په ګردښت کې پیسې ۱۳۹۰ کال لپاره د نقدینه ګۍ د دویم شاخص په توګه پیژندل شوی دی او لومړی شاخص د احتیاطي پیسو د زیرمو کچه ټاکل شوې ده نا څرګنده دې پاتې نه وي چې په ګردښت کې پیسې د احتیاطي زیرمو ستره برخه جوړوي او مختلفو عوامل لکه: په افغانستان بانک کې د کافي ظرفیت جوړول، د مالي سکتور د اوږدمهاله احصاییو ترتیبول او د ارقامو ښه انسجام؛ د نقدینه ګۍ شاخص د بدلون لامل شو.

۲–خالصه اسعاري زیرمې د مبادلې په ثابت نرخ یا د کریډت د تمدید د اسانتیا برنامې په نرخ سنجش کیږي.

باید یادونه وشي چې له یوې خوا د دولت لګښتونه (مالي سیاست) په اقتصاد کې د نقدینه ګۍ د زرق ( د افغانی د عرضې) تر ټولو مهم لامل ګڼل کیږي، له بلې خوا د دولت عواید د نقدینه ګۍ د ټیټیدو مهم لامل دی. نو د هېواد د مالي سیاست د دولت د لګښتونو/ عوایدو د برنامې له ارزونې سره په همغږۍ کې د نقدینه ګۍ د زرق د کچې وړاند وینه کیږي.

څرنګه چې مخکې اشاره وشوه د احتیاطي زیرمو د کچې کنټرول لپاره یوازې د بهرنیو اسعارو پلور او بیه لرونکو پانګو لیلام، د افغانستان بانک د پولي سیاست له ابزارو څخه شمېرل کیږي.

- د اسعارو پلور: د بهرنیو اسعارو د پلورلو لړۍ په اونۍ کې دوه ځله په د افغانستان بانک کې ترسره کیږي چې په کې سوداګریز بانکونه او د شرایط وړ صرافان ګډون کوي.
- د بیه لرونکو پانګو لیلام: د بیه لرونکو پانګو لیلام یوازې په اونۍ کې یو ځل ترسره کیږي چې د افغانستان بانک د سررسید میعاد له پلوه دوه ډوله بیه لرونکې پانګې د ۲۸ ورځنې او ۱۸۲ ورځنې سررسیدونو سره په سوداګریزو بانکونو باندې پلورل کیږي.

(۴) ګراف ښکاره کوي چې د احتیاطي زیرمو حقیقي کچه ( توره منحنی) د ۱۳۹۰ کال په ترڅ کې، د پیسو د نړیوال صندوق له ټاکل شوي حد ( تیز آبي منحنی) څخه تل لوړ دی.

(۴) ګراف: د احتیاطي زیرمو حقیقي وده




باید وویل شي چې د احتیاطي زیرمو د کچې لپاره حد په (۴) ګراف کې په خطي بڼه په پام کې نیول شوی دی. په حقیقت کې موسمي عوامل د احتیاطي زیرمو پر کچې نیغ په نیغه اغیزې لري. د بېلګې په توګه: په دریمه ربع کې د خطي ګراف په بنسټ د افغانستان بانک توانیدلی خپل لومړنی موخه چې د احتیاطي زیرمو له کچې څخه عبارت دی، په لاس راوړي. خو په همدې ربع کې د ناخطي حد په اساس د افغانستان بانک توانیدلی نه دی چې دې موخې ته ورسیږي.

په پورته ګراف کې د افغانستان بانک لخوا د کچې (حد) ټاکل په نسواري رنګ او د پیسو نړیوال صندوق لخوا په تیز آبي رنګ ښودل شوی دی. په دې هکله باید وویل شي چې د افغانستان بانک توانیدلی خو د کال د پای مقداري موخه په بریالی توګه تر لاسه کړي.

څرنګه چې په (۵) شکل کې لیدل کیږي په ګردښت کې پیسې ( توره منحنی ) د ۱۳۹۰ کال په اوږدو کې په زیات نوسان کې وه چې وروسته یې کچه (حد) د پیسو نړیوال صندوق ( شین منحنی) یو څه لوړه شوه. له نیکه مرغه د افغانستان بانک د پولي سیاست د وسایلو په کارولو سره توانیدلی چې دا مقداري موخه هم ترلاسه کړي.

(۵) ګراف: د ۱۳۹۰ کال په اوږدو کې په ګردښت کې د پیسو وده




د پولي سیاست لوی آمریت له معمول سره سم د ۱۳۹۰ کال په پیل کې د پولي تورم نرخ او اقتصادي وده پیش بیني کړې چې د کریدت د تمدید د اسانتیا د برنامې لاندې د ۱۳۹۰ کال لپاره د پولي تورم نرخ ۵ سلنه او اقتصادي وده ۶ سلنه وړاندوینه وشوه. د یادو شویو وړاندوینو په پام کې نیولو سره د کریدت د تمدید اسانتیا برنامې د مالي کال په پیل کې یعني ۱۳۹۰ کال په اوږدو کې په ګردښت کې د پیسو د ودې کچه ۱۸ سلنه او د احتیاطي زیرمو د کچې وده یې ۱۹ سلنه اټکل کړې وه.

بیه لرونکي پاڼې هغه لنډ مهاله بیه لرونکي اسناد دي چې سوداګریز بانکونه د هغې له لارې خپلې اضافي زېرمې د پانګې اچونې په توګه د مرکزي بانک سره ږدي، له هغه ځایه چې په بانکي سکتور کې د سیالیت زیاتوالی د اقتصادي کړنو د ډېروالي او ورسره سم د پولي تورم د لوړېدو لامل کیږي، نو د پولي سیاست د دې ابزارو د معرفي عمده لامل، د بانکي سکتور د سیالیت کنټرول دی.

د ۱۳۹۰ کال له پیل څخه تر ۱۳۹۰/۱۲/۲۹ نېټې پورې په ۲۸ ورځني بیه لرونکو پاڼو کې په ټولیزه توګه ۳۸،۷۸۰،۰۰۰،۰۰۰ افغانۍ او په ۱۸۲ ورځني بیه لرونکو پاڼو کې۸۲،۰۸۲،۰۰۰،۰۰۰ افغانۍ لیلام شوي دي او په لیلام کې بریالي بانکونو ته د دواړو ډولو بیه لرونکو پاڼو د لیلام له امله ۶۹۴،۳۴۰،۵۷۱.۰۲ افغانۍ ټکتانه ورکړل شوی ده.

باید وویل شي چې له دې ابزار څخه د لا ښې ګټې اخیستنې په موخه د بیه لرونکو پاڼو ثانوي بازار جوړول مهم ګڼل کیږي چې د دې چارې د تحقق لپاره د افغانستان بانک د ثانوي بازار مقرره تصویب او همدا دول ځانګړی کمپیوټري برنامه فعاله کړی ده.

د ۱۳۹۰ کال په پای کې د شپې په حسابونو کې د بانکي سکتور د اماناتو کچه ۴،۰۰۷،۶۲۵،۵۲۳ افغانیو ته زیاته شوې. د افغانستان بانک د شپې حسابونو د اسانتیا د ټکتاني نرخ د ۲۸ ورځني بیه لرونکو پاڼو د ټکتاني له نرخ څخه ۱ سلنه لوړ یا ټیټ ټاکل کیږي. له همدې امله د شپې په اسانتیا کې د بانکي سکتور د اماناتو د ټکتاني نرخ یو سلنه ټیټ سنجش کیږي. د افغانستان بانک د ۱۳۹۰ کال په ترڅ کې په ټولیزه توګه ۱۴۰،۱۵۸،۰۵۹ افغانۍ ټکتانه سوداګریزو بانکونو ته تادیه کړې ده.

د ۱۳۹۰ کال په ترڅ کې د افغانستان بانک سره د سوداګریزو بانکونو اجباري احتیاطي زیرمو له امله په ټولیزه توګه ۱۴۰،۱۵۸،۰۵۹ افغانۍ ټکتانه سوداګریزو بانکونو ته تادیه شوی ده.

## د کریدت د تمدید اسانتیا[۳]

د افغانستان بانک په ۱۳۹۰ هجري لمریز کال کې د مالیې وزارت سره په همغږۍ د افغانستان لپاره یوه درې کلنه برنامه (۲۰۱۰/۱۱-۲۰۱۳/۱۴) ترتیب او د پیسو نړیوال صندوق ته یې وړاندې کړه، له نېکه مرغه د پیسو د نړیوال صندوق اجرائیوي پلاوي د ۲۰۱۱ کال د نومبر په ۱۵ نېټه ۱۳۳.۶ ملیونه امریکایي ډالره د کریدت د تمدید اسانتیا تر برنامې لاندې د افغانستان اسلامي جمهوریت لپاره منظور کړې. د دې برنامې موخې د جوړښتي اصلاحاتو د تطبیق په کړندیتوب او د لوی اقتصاد په ټیکاو ټینګار کوي، په ځانګړې توګه دا برنامه پر پاینده وده، د لوی اقتصاد د ټیکاو په ساتنې او د نړیوالې ټولنې له وتلو څخه وروسته د احتمالي ستونزو او ننګوونو په وړاندې پر چمتوالي تاکید لري چې افغانستان څنګه کولای شي په سمه توګه خپل پولي او مالي سیاستونه همغږي او بیا یې طرح او

۳- Extended Credit Facility (ECF)

پلي کړي همدارنګه دا برنامه د افغانستان د ملي پرمختیایي پنځه کلن پلان سره په همغږۍ د بې وزلۍ د کموالي په موخه تدوین شوې ده.

د افغانستان بانک د پولي سیاست د ارزونې په موخه، د پیسو نړیوال صندوق پورته یادې شوې تر برنامې لاندې درې مقداري موخې ټاکلي دي چې عبارت دي له:

۱- د احتیاطي زیرمو( احتیاطي پیسو) د کچې لپاره د حد ټاکل

۲- په ګردښت کې پیسو لپاره د کچې ټاکل

۳- د اسعاري زیرمو د کچې لپاره د حد ټاکل

سر بېره پردې د کریدت د تمدید د اسانتیا برنامې د مالي سیاست (مالیې وزارت) لپاره ګڼ شمېر موخې هم ټاکلي دي. یادې شوې موخې د یو مالي کال لپاره ټاکل شوې او په ربعوار ډول د پیسو نړیوال صندوق د پلاوي لخوا ارزول کیږي.

د افغانستان بانک لخوا د هېواد د مالي نظام د ثبات د تامین او پر هغه د خلکو اعتماد د احیا لپاره د افغانۍ د نا وړاندوېل شوي تزریق د کچې امله مرکزي بانک و نتوانید چې د کریدت د تمدید د اسانتیا برنامې لاندې ژمنې شوې مقداري موخې په سمه توګه پلي کړي یا که: د احتیاطي زیرمو کچه او په ګردښت کې د پیسو کچه له خپل ټاکل شوي حد څخه واوښتې، بر عکس د افغانستان بانک وتوانید چې خپلو اسعاري زیرمې کې د پام وړ زیاتوالی راوړي. نو د افغانستان بانک د نا وړاند ویل شویو عواملو (د کابل بانک کړکیچ[۴]) په اساس و نه توانیده چې ټولې ټاکل شوې مقداري موخې تر لاسه کړي.

د کریدت د تمدید د اسانتیا برنامه د لاندې اغېزناکه اقتصادي سیاستونو طرحه جوړونه رانغاړي:

۱- د مالي نظام ټیکاو

۲ـ معقول پولي سیاست او اغیزناکه بانکي نظام

۳ـ بهرنۍ سوداګرۍ لپاره د سالم چاپیریال برابرول

۴- پانګه اچونې او د خصوصي سکتور ودې لپاره مساعد چاپیریال همدا ډول د هېواد په نافذه قوانینو او مقرراتو کې د تعدیلاتو موخه په اقتصاد کې د سالمې سیالۍ لپاره د شرایطو برابرول دي. د افغانستان بانک په اقتصاد کې د پیسو د عرضې کچه د پیسو د مقداري تیورۍ په بنسټ فورمولبندي کوي. دا میکانیزم پر دې اصل ټینګ ولاړ دی چې باید د متناسبو پیسو عرضه د هېواد له اسمي اقتصادي ودې سره وده وکړي څو د تورم په نرخ باندې له ناوړه اغیزو څخه مخنیوی وشي چې اوس مهال د دې کار د تحقق په موخه، د بهرنیو اسعارو او بیه لړونکې پاڼې لیلام د پولي سیاست یوازنی ابزار دی.

**د افغانۍ دوده**

باید وویل شي چې په ۱۳۸۱ کال کې د افغانۍ پولي واحد د اصلاح پلي کیدل ډېرو ستونزو ته د پای ټکی کښود. د پولي واحد د اصلاح له پلي کولو مخکې، تعویضي پیسې د افغانستان په اقتصاد کې په ګردښت کې وې. له بده مرغه د دې پدیدې اغیزې د افغانۍ د پولي واحد د اصلاح له پلي کیدو وروسته هم تر یوې کچې پاتې دي چې لا تر اوسه د هېواد په ځینو ولایتونو کې دوام لري. د تعویضي پیسو په ګردښت کې پاتې کیدل د پولي سیاست د تطبیق په برخه کې عمده ننګونه ده او هغه عوایدو چې د ملي پیسو د چاپ او خپرولو له امله تر لاسه کیږي، راکموي.

د بېلګې په توګه، د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمریت د پیسو د مقداري تیورۍ په بنسټ هر کال لپاره د پیسو د عرضې کچه ټاکي. د پیسو د کچې عرضه پیسو ته د تقاضا ښه سنجش ته اړتیا لري، په داسې حال کې چې د تعویضي پیسو د ګردښت سنجش کول د افغانستان بانک لپاره ستونزمنه ده. بالاخره، د پولي سیاست آمریت د تعویضي پیسو د ګردښت لپاره د شاخص جوړونې په لټه کې شو چې بانکي امانات د تعویضي پیسو د شاخص په توګه انتخاب شو. د لا وضاحت په موخه بانکي امانات په افغانۍ او اسعارو په (۷) ګراف کې وړاندې کیږي.

د ۱۳۸۵ کال په اوږدو کې د هېواد په بانکي سکتور کې د ټولیزو اماناتو یوازې ۲۰ سلنه په افغانۍ وو په داسې حال کې چې په ۱۳۹۰ کال کې دا سلنه ۳۵ ته لوړه شو. دا پخپله په ډاګه کوي چې د خلکو اعتماد په ملي پیسو باندې زیات شوی او په بانکي سکتور او هېواد کې لا دودتیا موندلې ده.

(۶) او (۷) ګراف د ۱۳۹۰.۱۳۸۹.۱۳۸۸.۱۳۸۷.۱۳۸۶.۱۳۸۵ کلونو لپاره د افغانیو په تفکیک د بانکي سکتور ټولیزه امانات او سلنه یې وړاندې کوي:

۴ـد کابل بانک کړکیچ: د کابل بانک کړکیچ په ۲۰۱۰ میلادي کال کې را منځ ته شو او امانات ایښودنکو په سرسامه توګه بانک ته راغلل څو خپلې پیسې(امانات) ترلاسه کړي. د دا ډول نا وړاند ویل شوي عمل دوام بانکي سکتور لپاره خطر ناک ګڼل کیږي. له همدې امله د افغانستان بانک د پور ورکونې د وروستۍ سرچینې په توګه اقدام وکړ او د امانات ایښودونکو پیسې یې په کابل بانک کې تضمین کړې څو د خلکو اعتماد د هېواد په مالي سکتور له منځه لاړ نشي.

(۶) ګراف: په افغانۍ او اسعارو د بانکي اماناتو مجموعه




(۷) ګراف: په افغانۍ او اسعارو د بانکي اماناتو سلنه(فيصدي)




**د افغانستان بهرنۍ سوداګري**

د توکو واردات او صادرات، د افغانستان د بهرنۍ سوداګرۍ عمده برخه جوړوي. پدې پاتې نه وي چې د هېواد ټوليزه واردات د ۱۳۹۰ کال د دريو لومړيو ربعو په ترڅ کې ۴،۴۹۶ مليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي په داسې حال کې چې د هېواد صادرات په همدې وخت کې ۲۹۰ مليونه امريکايي ډالرو ته زيات شوي. په پايله کې ويلی شو چې افغانستان يو خالص وارداتي هېواد دی، له همدې امله د تادياتو د بيلانس له کسر سره مخامخ دی.

(۸) ګراف: د ۱۳۹۰ کال په لومړی دريو ربعو کې د افغانستان نړيواله سوداګري




له (۸) ګراف څخه دا پايله لاس ته راځي چې پاليسي جوړونکي نهادونه بايد ډېر تمرکز د کورنيو توليداتو په سکتورنو باندې ولري څو له يوې خوا په کورنيو بازارنو کې د تقاضا ستونزه حل او د هېواد دننه سالمه سيالي را منځ ته شي او له بلې خوا د هېواد صادرات تشويق شي او له نړيوالو او سيمه ايزو توافقاتو څخه د هېواد په ګټه اغيزناکه ګټه پورته شي.

## (۳)جدول: د ۱۳۹۰ کال لومړی دریو ربعو کې د صادراتو جدول

دوره: د ۱۳۹۰ کال د لومړی، دویمې او دریمې ربعې صادرات

| توکي | په مليون امريکايي ډالر | د صادراتو حجم | د مقیاس واحد | سلنه |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| غالي | ۳۲ | ۳۲۴ | زر متر مربع | ۱۱.۰۲ |
| وچه میوه | ۸۱ | ۲۸ | زر ټنه | ۲۷.۹۵ |
| تازه میوه | ۴ | ۱۲ | زر ټنه | ۱.۴۹ |
| طبي نباتات | ۳۷ | ۹ | زر ټنه | ۱۲.۹۳ |
| مالوچ (پمبه) | ۵ | ۴ | زر ټنه | ۱.۷۳ |
| پشم | ۵ | ۱ | زر ټنه | ۱.۷۶ |
| پوستکي | ۵ | ۱۳۷۱ | زر جلده | ۱.۷۷ |
| د قره قل پوستکي | ۷ | ۵۶۵ | زر جلده | ۲.۲۴ |
| کولمې(روده) | ۰ | ۱۴۵ | زر حلقې | ۰.۱۲ |
| شحمي حبوبات | ۱۶ | ۱۱ | زر ټنه | ۵.۵۴ |
| نور توکي | ۹۷ | ۰ | | ۳۳.۴۴ |
| مجموع | ۲۹۰ | | | ۱۰۰.۰۰ |

## (۴) جدول: د ۱۳۹۰ کال په لومړی دریو ربعو کې واردات ښکاره کوي

دوره: د ۱۳۹۰ کال د لومړی، دویمې او دریمې ربعې واردات

| توکي | په مليون امريکايي ډالر | د صادراتو حجم | د مقیاس واحد | سلنه |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| میخانیکي پرزې | ۶۶۳ | ۰ | | ۱۴.۷۴ |
| د سون مواد او روغنیات | ۱۴۲۶ | ۱۵۸۶ | زر ټنه | ۳۱.۷۲ |
| فلزي محصولات | ۳۳۲ | ۰ | | ۷.۳۸ |
| غنم | ۱۵۴ | ۳۴۴ | زر ټنه | ۳.۴۳ |
| نباتي غوړي | ۱۱۰ | ۱۵۶ | زر ټنه | ۲.۴۶ |
| ټایر او ټیوب | ۲۷ | ۰ | | ۰.۶۰ |
| سمنټ | ۱۱۹ | ۱۳۳۸ | زر ټنه | ۲.۶۶ |
| منسوجات | ۷۱ | ۰ | | ۱.۵۹ |
| چاى | ۴۳ | ۳۵ | زر ټنه | ۰.۹۵ |
| سګرټ | ۵۱ | ۰ | | ۱.۱۴ |
| صابون | ۲۰ | ۲۸ | زر ټنه | ۰.۴۴ |
| درمل | ۲۶ | ۰ | | ۰.۵۷ |
| کیمیاوي کود | ۷ | ۲۶ | زر ټنه | ۰.۱۵ |
| کیمیاوي مواد | ۰ | ۰ | | ۰.۰۱ |
| بوره | ۲۱ | ۴۸ | زر ټنه | ۰.۴۷ |
| تارونه | ۲ | ۰ | | ۰.۰۵ |
| کالي | ۲۵ | ۰ | | ۰.۵۵ |
| بوټ | ۱۸ | ۰ | | ۰.۴۰ |
| تلویزیون | ۷ | ۲۱۸ | مليون ډالر | ۰.۱۶ |
| بایسکل | ۲ | ۱۲۶ | مليون ډالر | ۰.۰۵ |
| قرطاسیه | ۱۲ | ۰ | | ۰.۲۷ |
| نور توکي | ۱۳۵۸ | ۰ | | ۳۰.۲۱ |
| مجموع | ۴۴۹۶ | | | ۱۰۰.۰۰ |

له پورته ګراف څخه دې پایلې ته رسیږو چې د افغانستان کورني تولیدات د عمومي تقاضا ځوابوونکی نه ؤ نو ځکه د وارداتو له امله د تادیاتو د بیلانس کسر وجود لري. هیله کیږي چې پالیسی جوړونکي نهادونه په اقتصاد کې د حقیقي سکتور د پرمختیا په موخه پانګه اچونه لا تشویق کړي تر څو له یوې خوا په کورنیو بازارنو کې د تقاضا ستونزه حل او د هیواد په دننه کې سالمه سیالي رامنځ ته شي او له بلې خوا د هیواد صادرات تشویق شي او له نړیوالو او سیمه ایزو توافقاتو څخه د هیواد په ګټه مؤثره استفاده وشي.

د افغانستان بانک




# د افغانستان بانکی نظام

# د افغانستان بانکي نظام

بانکي نظام له ۱۷ بانکي مؤسسو ( ۳ دولتي بانکونه، ۹ خصوصي بانکونه او ۵ د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ) څخه جوړ شوی دی چې په هېواد کې د نمایندګیو شمېر او داسې نورې شته بانکي آسانتیاوې یې لاندې وړاندې کیږي:

(۵) جدول

| اسانتیاوې | شمېر |
|---|---|
| له بشپړ خدماتو سره نمایندګۍ | ۱۷۲ |
| له محدود خدماتو سره نمایندګۍ | ۱۷۸ |
| د صرافي اتومات ماشینونه( ډول ۲۲) | ۹٤ |
| نورې اسانتیاوې ( ډول ۲۱،۲٤،۲۵) | ۷٤ |
| د پلورلو ځایونه( ډول ۲۳) | ۲٤۷ |
| مجموعه | ۷٦٤ |

(٦) جدول

| | |
|---|---|
| د بدهی کارت (دبت کارت) | ٦۵،٦۲۷ |
| د اعتبار (پور) کارت (کریدت کارت) | ۳۳۱ |
| د ای تی ایم کارت ( ATM ) | ۷،۲۰٦ |
| مجموعه | ۷۳،۱٦٤ |

پورته اسانتیاوې د کابل ښار په شمول د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د لاسرسی وړ دي، په داسې حال کې چې دبت کارت او کریدت کارت د هېواد په ۸ ولایتونو او ای تی ایم کارت یوازې په کابل ښار کې د لاسرسی وړ دی.

همدا ډول تر اوسه پورې په ټولیزه توګه ۴۱۴ د پولي خدماتو وړاندې کوونکو او ۸۸۹ صرافانو ته جوازونه ورکړل شوي دي. له ۴۱۴ تنو پولي خدماتو وړاندې کوونکو څخه ۲۵۹ په کابل او ۱۵۹ تنه د هېواد په نورو ولایتونو کې فعالیت کوي. سربېره پر دې په مرکز او ولایتونو کې د پولي خدماتو د وړاندې کولو ۲۲۷ نمایندګۍ په فعالیت بوختې دي. له ۸۸۹ مجوزو صرافانو څخه ۲۸۳ صرافان په کابل او ۶۰۵ صرافان د هېواد په نورو ولایتونو کې کار کوي. د پولي خدماتو او صرافانو د زیاتوالي بهیر معلومولو لپاره لاندې (۹) ګراف ته مراجعه وکړئ.

(۹) ګراف




* د ۲۱ ډول اسانتیا: هغه واحد یا دفتر چې د پور د لومړنیو مراحلو د اجراء کولو واک لري، خو د پور د ورکولو واک نه لري.
د ۲۴ ډول اسانتیا: هغه واحد چې یوازې د نغدو پیسو د تادیې واک لري لکه، دولتي او غیر دولتي کارکوونکو ته د معاشونو ورکول او یا د بانک مشتریانو لپاره داسې نور نقدي تادیات رانغاړي.
د ۲۵ ډول اسانتیا: دا واحد یوازې د مختلفو حکمي او حقیقي اشخاصو (معمولاً د سفارتونو، هوټلونو او داسې نورو) په حسابونو کې د اماناتو په ډول له عامه خلکو څخه د پیسو د تر لاسه کولو او د نغدو پیسو د تر لاسه کولو په موخه د رسید د صادرولو واک لري.
**د ۲۳ ډول اسانتیا: په پلورنځایونو کې خدماتي شبکې (یوازې لګښتونه وضع کوي خو د سپما واک نه لري).

## ټولیزه شتمنی

د بانکي نظام ټولیزه شتمنی ۲۰۸.۵۲ ملیارده افغانی(۴.۱۸ ملیارد ډالره) ته زیاته شوې چې د ۱۳۸۹ کال په پرتله ۲.۲۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په داسې حال کې چې د ۱۳۸۹ کال په کب کې د بانکي نظام ټولیزه شتمنی ۲۰۳.۸۴ ملیارده افغانی(۴.۴۸ ملیارده ډالره) وه. د شتمنیو تر ټولو ډیره ونډه دولتي بانکونو درلوده چې د تیر کال په پرتله په سلو کې۱۰۱.۱۵ زیاتوالی ښکاره کوي. ور پسې د بهرنیو بانکونو نمایندګیو شاوخوا ۱۵.۳۰ سلنه ونډه کړې ده. په داسې حال کې چې د خصوصي بانکونو ټولیزه شتمنی په سلو کې۲۴.۰۷ ټیټوالی ښکاره کوي، د دې ټیټوالی لامل د یو شمیر بانکونو په ټولیزه توګه د کابل بانک په دوو برخو وېشل او نوي کابل بانک له خصوصي بانکونو څخه د دولتي بانکونو په قطار کې راوستلو ته ستنیږي. د زیاتو معلوماتو لپاره لاندې(۱۰) ګراف ته چې له ۱۳۸۲ هجري لمریز کال څخه د۱۳۹۰ کال تر کب پورې د بانکي نظام د شتمنیو بهیر ښکاره کوي مراجعه وکړی.

(۱۰) ګراف




(۱۱) ګراف



## ټولیزه پورونه

د افغانستان د بانکي نظام له ټولیزه شتمنیو څخه، د بانکي نظام ناخالص پورونه ۴۰.۰۵ ملیارده افغانۍ(۸۰۴ ملیون ډالرو) ته زیات شوي چې په ټولیزه توګه د بانکي نظام ۱۹.۲۱ سلنه شتمنۍ جوړوي او د تیر کال (۱۳۸۹-کب ) د ۸۰.۲۴ ملیارده افغانۍ(۱.۷۶ ملیارده ډالرو) په پرتله ۳۹.۳۷ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

د ټولیزه ناخالصه پورونو له ډلې څخه په بانکي نظام کې په افغانیو د پورونو کچه ۸.۰۱ ملیارده افغانۍ(۱۶۱ ملیونه ډالره) یا د ټولیزه ناخالصه پورونو په سلو کې ۲۰.۰۰ او د ټولیزه شتمنیو ۳۸۴ سلنه جوړوي چې په ترڅ کې یې په افغانۍ د پورونو کچه د ۱۳۸۹کال د کب د میاشتې په پرتله ۶۳.۱۷ سلنه ټیټوالی موندلی دی او د بانکي نظام ډالري پورونه ۳۲،۰۳ ملیارده افغانۍ( ۶۴۳ ملیونه ډالره) یا د ټولیزه پورونو په سلو کې ۳.۸۴ یا د ټولیزه شتمنیو په سلو کې ۱۵،۳۶ جوړوي او د ۱۳۸۹ کال د کب میاشتې په پرتله ۴۵.۲۲ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

په پورته یاد شوي ټیټوالي کې د بانکي نظام د یو شمېر بانکونو پورونه ونډه لري خو د دې ټیټوالي لامل د کابل بانک په دوو برخو وېشلو یعنې" د کابل بانک د تصفیې مدیریت" او " نوی کابل بانک" دی. په هېواد کې د پور ورکونې په برخه کې خصوصی بانکونه د ۷۳.۵۲ سلنې ونډې په درلودلو سره په لومړي قدم کې، دولتي بانکونه ۱۵.۰۸ سلنې ونډې سره په دویم قدم او د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ ۱۱.۴ سلنې ونډې سره په دریم قدم کې راځي.

## د بانکداری نظام د ټولیزه پورونو ډله بندي

صعب الحصول پورونه[۵]:

دا چې د پورونو د ډله بندۍ راپور په ربعوار ډول د بانکونو لخوا وړاندې کیږي، له همدې امله مونږ د وروستی ربعې یعنې د ۱۳۹۰ کال د کب ارقام له مخکنۍ ربعې سره پرتله کوو.

د ۱۳۹۰ کال د کب په میاشت کې د بانکي نظام صعب الحصول پورونه ۲.۰۶ ملیارده افغانۍ (۴۱ ملیون امریکایي ډالره) وو چې د ټولیزه ناخالصو پورونو په سلو کې ۵.۱۵ جوړوي او د ۱۳۸۹ کال د کب میاشتې د ۳۸.۸۳ ملیارده افغانۍ په پرتله ۳۶.۷۷ ملیارده افغانۍ ټیټوالی ښکاره کوي. د یادونې وړ ده چې په تیره دوره ( د ۱۳۸۹ کال په کب کې) ۹۶ سلنه صعب الحصول پورونه په کابل بانک پورې تړاو لري. خو د مخکنۍ ربعې په نسبت (د ۱۳۹۰ په لیندۍ کې) ټولیزه صعب الحصول پورونه ۴۶ ملیونه افغانۍ ټیټوالی ښکاره کوي چې په عمومي توګه دا ټیټوالي دریو مالي مؤسسو سره تړاو لري.

معکوس ډله بندي شوي پورونه[۶]:

معکوس ډله بندي شوي پورونه د ۱۳۹۰ کال د کب له قراره ۳،۶۲ ملیارده افغانۍ ( ۷۳ ملیونه ډالرو) ته رسیدلي چې د ټولیزه ناخالصه پورونو ۹.۰۵ سلنه جوړوي. دا شمېره د مخکنۍ دورې ( د ۱۳۸۹ کب) په پرتله چې په هغه دوره کې ۳.۰۷ ملیارده افغانۍ یا د ټولیزه ناخالصه پورونو ۳۸۳ سلنه وه، د ۵۵۲ ملیونه افغانۍ په کچه ټیټوالی موندلی دی. همدا ډول چې د مخکنۍ ربعې په پرتله معکوس صنف بندي شوي پورونه د ۷۲۷ ملیونه افغانۍ په کچه ټیټوالی موندلی دی.

۵-صعب الحصول پورونه: هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ټکتانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه یې ۹۱ ورځې یا زیاتې تیرې شوي وي.

۶-معکوساً ډله بندي شوي پورونه: هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ټکتانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه یې ۶۱ الی ۹۰ ورځې ( تحت المعیار) ۹۱- ۱۸۰ ورځې (مشکوکې) تېرې ش وي.

## د پام لاندی کټګورۍ کې پورونه[۷]:

همدارنګه د پام لاندی کټګورۍ کې صنف بندي شوي پورونه د ۱۳۹۰ کال د کب له قراره ۱.۶۳ ملیارده افغانی ( ۳۳ ملیونه ډالره) وی چې د تولیزه ناخالصو پورونو ۴.۰۷ سلنه جوړوي او د مخکنۍ دورې ( د ۱۳۸۹ کال د کب) د ۲.۱۶ ملیارده افغانی یا د تولیزه ناخالصو پورونو ۲.۶۹ سلنې څخه، ۲۴.۶۷ سلنه ټیټوالي ښکاره کوي. د پام لاندې کټګورۍ کې د پورونو، بررسي او څارنه لازمه ده ځکه هغه پورونه چې تر نظر لاندې کټګورۍ کې راغلي زيات احتمال شته چې تر ټولو ټیټ صنف ته په اسانی بدل شي. د مخکنۍ ربعې ( د۱۳۹۰ کال لیندۍ) په پرتله د پورونو په دې کټګورۍ کې، ۳۶ ملیونه افغانی ټیټوالی ښکاري.

## په خساره کټګورۍ کې پورونه[۸]:

په خساره کټګوريو کې دله بندي شــوي پورونه ۲۲ ملیونه افغانی (۰.۴۴ملیونه ډالرو) ته زيات شوي چې د مخکې ورته دورې په پرتله ۳۶.۸۶ ملیارده افغانی یا د تولیزه ناخالصو پورونو ۰.۰۵ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي، تر ټولو ډېره ونډه (۲۲ ملیونه افغانی) يې يو بانک ته ورکول کیږي.

خو د یادونې وړ ده هغه پورونه چې په خساره کټګورۍ کې صنف بندي شوي ؤ زيات يې د کابل بانک دي. د مخکنۍ ربعې په پرتله په خساره کټګورۍ کې صنف بندي شوي پورونه د ۲۶۹ ملیونه افغانی په اندازه ټیټوالی موندلی دی.

## کوچني او منځنی پورونه:

د ۱۳۹۰ کال د کب میاشتې د شمېرنې پر اساس، کوچني پورونه او منځنی پورونه ۷.۴۹ ملیارده افغانی ته زیات شوي دی. له دې ډلې ۴.۸۴ ملیارده افغانی منځنی پورونه دي چې د تولیز پورونو ۱۲.۰۸ سلنه جوړوي. په داسې حال کې چې کوچني پورونه ۲،۶۵ ملیارده افغانیو ته رسیږي او د تولیزه پورونو ۶.۶۳ سلنه جوړوي. کوچني او منځنی پورونه د اتو بانکونو لخوا ورکړل شوي چې د مخکنۍ ربعي (۱۳۹۰ لیندۍ) په پرتله د منځنیو پورونو کچه د ۲۳۲ ملیون افغانی په اندازه را کښته شوی دی.

په لاندې جدول کې د بانکي نظام د ناخالصه پورونو تفکیک او په (۱۲) ګراف کې د صعب الحصول پورونو نسبت د بانکي نظام پر ناخالصه پورونو ته کب د میاشتې له قراره وړاندې شوي دي:

د ۱۳۹۰ کال د کب میاشتې د شمېرې په بنسټ په ولایتونو او مختلفو سکتورونو کې د تولیزه پورونو وېش په لاندې جدول کې وړاندې کیږي. د بانکي نظام د پورونو په جغرافیائي، سکتوري او نهادي وېش کې تنوع ترسره شوی نه ده، خو تمه کیږي چې د وخت په تیریدو سره د پورونو وېش متنوع شي.

په ولایتونو کې (له جغرافیایي پلوه) د پورونو وېش په لاندې جدول کې وړاندې کیږي:

**(۷) جدول**

| بانک | ناخالصه پورونه (ارقام په ملیون افغانی) |
|---|---|
| دولتي بانکونه | ۶،۰۴۲ |
| خصوصی بانکونه | ۲۹،۴۴۹ |
| د بهرنیو بانکونو نمایندګی | ۴،۵۶۵ |
| **مجموعه** | **٤٠،٠٥٦** |

**(۱۲) ګراف**

د صعب الحصول پورونو نسبت پر تولیزه ناخالصه پورونو باندې




۷–تر پام لاندې کټګورۍ کې پورونه: هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ټکټانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه يې ۳۱ – ۶۰ ورځې تېرې شوي وي.

۸ – په خساره کټګورۍ کې پورونه: هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ټکټانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه يې ۱۸۱ یا زیاتې ورځې تیرې شوي وي.

د ۱۳۹۰ کال د کب میاشتې د شمېرې په بنسټ په ولایتونو او مختلفو سکتورونو کې د ټولیزه پورونو وېش په لاندې جدول کې وړاندې کیږي. د بانکي نظام د پورونو په جغرافیائي، سکتوري او نهادي وېش کې تنوع ترسره شوی نه ده، خو تمه کیږي چې د وخت په تیریدو سره د پورونو وېش متنوع شي.

په ولایتونو کې (له جغرافیایي پلوه) د پورونو وېش په (۸) جدول کې وړاندې کیږي:

(۸) جدول

| شمېره | ولایتونه | د پور مبلغ (په ملیون افغانی) | د ټولیزه پورونو له قراره سلنه |
|---|---|---|---|
| ۱ | کابل | ۳۲،۲۳۱ | ٪ ۸۰.۷۷ |
| ۲ | هرات | ۲،۶۳۸ | ٪۶.۶۱ |
| ۳ | بلخ | ۲،۲۷۹ | ٪ ۵.۷۱ |
| ۴ | کندهار | ۶۴۳ | ٪ ۱.۶۱ |
| ۵ | ننگرهار | ۶۳۳ | ٪ ۱.۵۹ |
| ۶ | بدخشان | ۲۶۹ | ٪ ۰.۶۷ |
| ۷ | بامیان | ۲۱۲ | ٪ ۰.۵۳ |
| ۸ | کندز | ۱۹۱ | ٪ ۰.۴۸ |
| ۹ | بغلان | ۱۷۶ | ٪ ۰.۴۴ |
| ۱۰ | پروان | ۱۱۷ | ٪ ۰.۲۹ |
| ۱۱ | تخار | ۹۹ | ٪ ۰.۲۵ |
| ۱۲ | خوست | ۹۹ | ٪ ۰.۲۵ |
| ۱۳ | جوزجان | ۸۶ | ٪ ۰.۲۲ |
| ۱۴ | فاریاب | ۷۸ | ٪ ۰.۲۲ |
| ۱۵ | سرپل | ۶۱ | ٪ ۰.۱۵ |
| ۱۶ | سمنگان | ۶۱ | ٪ ۰.۱۵ |
| ۱۷ | غزني | ۲۹ | ٪ ۰.۰۷ |
| ۱۸ | کاپیسا | ۰ | ۰.۰٪ |
| ۱۹ | وردک | ۰ | ۰.۰٪ |
| ۲۰ | نیمروز | ۰ | ۰.۰٪ |
| ۲۱ | دایکندي | - | ۰ |
| ۲۲ | فراه | - | ۰ |
| ۲۳ | پکتیا | - | ۰ |
| ۲۴ | غور | - | ۰ |
| ۲۵ | هلمند | - | ۰ |
| ۲۶ | پنجشیر | - | ۰ |
| ۲۷ | کنړ | - | ۰ |
| ۲۸ | لوګر | - | ۰ |
| ۲۹ | لغمان | - | ۰ |
| ۳۰ | نورستان | - | ۰ |
| ۳۱ | ارزګان | - | ۰ |
| ۳۲ | پکتیکا | - | ۰ |
| ۳۳ | بادغیس | - | ۰ |
| ۳۴ | زابل | - | ۰ |
| | مجموعه | ۳۹،۹۰۴ | ٪۱۰۰ |

د پورونو سکتوري وېش په لاندې جدول کې په تفصیل سره وړاندې کيږي:

( ۹ ) جدول

| سکتور | د تولیزه پورونو له قراره سلنه |
|---|---|
| رهني او تعمیراتي پورونه | ٪۲.۸۵ |
| نور سوداګریز پورونه | |
| کانونه | ٪۰.۷۲ |
| تولیدات | ٪۱۳.۳۲ |
| سوداګری | ٪۲۷.۸۴ |
| مخابرات | ٪۰.۹۴ |
| خدمات | ٪۱۱.۹۵ |
| اسانتیاوې | ٪۰.۳۰ |
| نور سوداګریز پورونه | ٪۱۰.۸۹ |
| کرنیز پورونه | ٪۲.۰۶ |
| لګښتي پورونه | ٪۰.۸۲ |
| انفرادي اشخاصو لپاره د هستوګنې رهني پورونه | ٪۱۵.۶۵ |
| له پورته یاد شوي مواردو پرته نور پورونه | ٪۱۲.۶۵ |
| مجموعه | ٪۱۰۰ |

د ۲۰۱۱ کال د دسامبر میاشتې له نظره په هېواد کې د مسفاء (Misfa) د شریکانو عمومي جزئیات په مرکز، ولایتونو او ناحیو کې د مؤسسو د شمېر له پلوه او همدارنګه د مشتریانو، پوروړو، د پورونو مبلغونه، د ښځینه مشتریانو سلنه، ښځینه پوروړي او داسې نور جزئیات په لاندې جدول کې وړاندې شوي دي:

(۱۰) جدول

| د مسفا شریکان | شمیر |
|---|---|
| د کوچنیو پورونو مالي موسسې | ۷ |
| ولایتونه | ۲۲ |
| ناحیه | ۸۱ |
| مشتریان | ۳۳۲،۶۱۴ |
| مقروضین(پوروړي) | ۲۲۹،۱۲۶ |
| د ورکړل شویو پورونو وېش | ۱،۲۰۳،۵۱۶ |
| د ورکړل شویو پورونو مبلغ (په ملیون ډالر) | ۷۹۴ |
| پاتې پورونو شمېر | ۲۲۸،۱۷۵ |
| پاتې تولیزه ناخالصه پورونه (په ملیون ډالر) | ۱۰۸ |
| د مشتریانو پاتې سپما (په ملیون ډالر) | ۱۴ |
| د ښځینه مشتریانو سلنه | ٪۶۱ |
| پوروړې ښځې | ۱۵۳،۸۲۸ |
| په کلیو او باندیو کې پورونه (په ملیون ډالر) | ۲۱ |
| په ښارونو کې پورونه (په ملیون ډالر) | ۸۷ |
| سرچینه یا ماخذ | www.misfa.org.af |

## ټولیزه امانات

امانات د بانکي سیستم د بدیهی تر ټولو لویه برخه جوړوي او د ۱۳۹۰ کال د کب میاشتې له قراره ۱۸۰.۴۲ ملیارده افغانی(۳.۶۲ ملیارده ډالرو)ته زیات شوي چې د بانکي نظام د ټولیزه بدهیو ۹۴.۱۱ سلنه جوړوي او په مخکنی دوره ( د ۱۳۸۹ کب ) کې د ۱۵۶.۵۴ ملیارده افغانی( ۱.۲۱ ملیارده ډالرو) په پرتله یې ۱۵.۲۶ سلنه زیاتوالی موندلی دی. په افغانی امانات د ټولیزه اماناتو یوازې ۳۳.۳۴ سلنه جوړوي او ۶۰.۱۶ ملیارده افغانی( ۱.۲۱ ملیارد ډالرو) ته زیات شوي چې د تیرې دورې په پرتله یې ۱۱.۲۷ سلنه زیاتوالی موندلی دی. د بانکوالی نظام ډالري امانات ۱۱۵.۰۲ ملیارده افغانی (۲.۳۱ ملیارد ډالرو) ته لوړ شوي چې د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو ۶۳.۷۵ سلنه جوړوي او د مخکنی دورې په پرتله یې ۱۷.۷۹ سلنه زیاتوالی موندلی دی. خصوصي بانکونه د بانکي نظام په ټولیزه اماناتو کې تر ټولو زیاته(۴۹.۴۸) سلنه ونډه لري او د بانکي نظام په ټولیزه اماناتو کې د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو او دولتي بانکونو ونډې په ترتیب سره ۳۱.۸۲ سلنه او ۱۸.۶۹ سلنه جوړوي.

(۱۳) ګراف




### د ټولیزه اماناتو د ودې میاشتنی پرتله

د بانکي نظام ټولیزه امانات د ۱۳۸۸ کال تر پای پورې صعودي بهیر درلودلی دی، خو د ۱۳۸۸ کال د کب له میاشتې وروسته یې نزولي بهیر اختیار کړ چې د سلنې په شکل یې د ۱۳۸۹ کال په غویي میاشت کې ۰.۴۱ سلنه منفي وده کړې ده. خو د ۱۳۸۹ کال له چنګاښ وروسته یې دوباره نزولي بهیر غوره کړ چې د وږي میاشت کې تر ټولو ټیټې نقطې( ۸.۳۲ ) سلنې ته ورسیده او د دې ټیټوالي بنسټیز لامل د بانکي نظام په یو بانک کې د اماناتو ټیټوالی ښودل شوی دی.

د ۱۳۹۰ کال د کب میاشت کې د بانکي نظام امانات د مخکنی میاشتې (۱۳۹۰ سلواغې) په پرتله په سلو کې ۲.۷۵ زیاتوالی موندلی دی چې د دې زیاتولي لامل یو شمېر بانکونه دي. د لا وضاحت لپاره په (۸) ګراف کې د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو د ودې بهیر وړاندې شوی دی.

(۱۴) ګراف



(۱۱) جدول

| د ۱۳۹۰ کال د کب مياشتې په پای کې د ټوليزه اماناتو ترکيب (په مليون افغانی) | |
|---|---|
| جاری | ۱۲۱،۹۶۴ |
| ميعادي | ۱۱،۵۷۵ |
| سپما | ۴۶،۸۸۷ |
| **مجموعه** | ۱۸۰،۴۲۶ |

## ټوليزه پانګه

بانکي نظام کافي پانګه لري چې ۱۶.۸۱ ملیارده افغانی (۳۳۷ مليونه ډالرو) ته رسيږي، دا په داسې حال کې چې په مخکنی دوره (۱۳۸۹ کب) کې د بانکي نظام پانګې منفي رقم (۱۷.۳۷ ملیارده افغانی) ښکاره کاوه چې د بانکي نظام د پانګې د منفي کېدو بنسټيز لامل د کابل بانک د پور شخړې لپاره د خسارې د جبران د زيرمې تشکيل (۱۷.۳۷ ملیارده افغانی) دی.

دا مهال د ټولو بانکونو مقرراتي پانګه د افغانستان بانک د حد اقل ټاکلي پانګې (د چمتو شوې شتمنی د خطر په بنسټ په سلو کې ۱۲) څخه زياته ده. پرته له يو بانک څخه چې د مقرراتي پانګې نسبت يې د افغانستان بانک د حد اقل ټاکل شوي پانګې څخه ټيټ بريښي. په داسې حال کې چې د يو بل بانک د شتمنيو کيفيت د لږ ټکنی کېدو او تاوان سره به له مقرراتي حد اقل ټاکل شوې پانګې د بانکي نظام د مالي پانګې او ثبات د پياوړتيا په موخه، د افغانستان بانک حد اقل ټاکل شوې مالي پانګه ۱ ملیارد افغانۍ ته زياته کړې ده او ټولو مجوزو بانکونو ته لاربوونه شوې ده چې تر راتلونکو دوو کلونو پورې خپله لومړنی پانګه له حد اقل ۱ ملیارد افغانی سره عیـاره کړي[۹] دا ټاکل شوی وخت به د ۱۳۹۱ کال د غبرګولي په مياشت کې پای ته ورسيږي. د بانکي نظام د مالي پانګې بهير په لاندې شکل کې وړاندې کيږي.

(۱۵) ګراف




## ګټه

### په مياشتنی توګه

بانکي نظام له پنځه مياشتې ګټې وروسته په پرله پسې توګه د کب مياشت کې په تاوان کې ؤ. د بانکي نظام زيان ۸۰۹ مليونه افغانی ته رسيږي. د ۱۷ بانکونو له ډلې، شپږو بانکونو په ټوليزه توګه ۹۲۲ مليونه افغانی تاوان کړی دی چې د مخکنی مياشتې (۱۳۹۰ کال سلواغې) په پرتله ۷۴۶ مليونه افغانی زياتوالی موندلی دی. د يادونې وړ ده چې په سلو کې ۹۵ دا زيان (۹۲۲ مليونه افغانی) دريو بانکونو ته متوجې کيږي. د کب مياشت کې د بانکي نظام د زيان بنسټيز لاملونه د ټکټانې په عوايدو کې ټيټوالی او په اعتباري تأميناتو، عملياتو لګښتونو، مالياتو کې زياتوالی او د بيا ارزښت موندنې له کبله زيانونه دي. له بلې خوا، د نا ټکټانې عوايد يو ناڅيز زياتوالی له خانه ښکاره کړی دی. د بانکي نظام منځنی ارزښت (Spread) يا د پورونو د ټکټانې او د نوي اماناتو د ټکټانې ترمنځ توپير د مخکنی مياشتې په پرتله په سلو کې ۰.۲۹ ټيټوالی موندلی دی.

د څلورو بانکونو منځنی ارزښت د بانکي نظام له منځنی ارزښت څخه ټيټ دی. د بانکي نظام د اغيزناکی (Efficiency) منځنی حد ۱.۴۳ دی چې د ۱.۳۸ په پرتله يې په سلو کې ۰.۰۵ زياتوالی موندلی دی. په بانکي نظام کې اته بانکونه د اغيزناکی له منځنې حد څخه ټيټ قرار لري.

په ټوليزه توګه (۱۳۹۰ کال له وړي څخه تر کب پورې)

د افغانستان بانکي نظام د ۱۳۹۰ کال په اوږدو کې زيات په ضرر کې قرار درلوده، چې په ټوليزه توګه (Cumulative) يې د ۱۳۹۰ کال تر کب مياشتې پورې ۲.۴۴ ملیارده افغانی (۴۸.۹۸ مليونه ډالره) زيان کړی دی چې د مخکنی دورې (۱۳۸۹ د کب مياشتې) ۳۹.۴۶ ملیارده افغانی زيان په پرتله ۳۷.۰۰ ملیارده افغانی ارا ټيټ شوی دی.

[۹]– د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۳۸۹/۰۳/۱۶ نېټې تصويب

د بانکي نظام شتمنیو ته د بیا ګرځیدنې نسبت ۱.۲۱ سلنه ده چې د تیرې دورې (۱۳۸۹ کال) د ۲۰.۰۸ سلنې په پرتله ۱۸.۸۷ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. په ټولیزه توګه پنځو بانکونو ۴.۱۴ ملیارده افغانی زیان کړی دی او د تیرې دورې (۱۳۸۹ کب) په پرتله چې په کې ټولیز زیان شپږو بانکونو پورې اړوند ؤ، ۴۰.۸۳ ملیارده افغانی ته رسیږي. باید یادونه وشي چې د بنسټیز عاید پر بنیاد ( Core Income) څلور بانکونه په زیان کی دي.

د بانکي نظام ګټه او تاوان په (۱۵)ګراف کې د دولتي، خصوصي او بهرنیو بانکونو د نمایندګیو په تفکیک سره وړاندې کیږي.

( ۱) ګراف




## سیالیت (نقدینه ګی)

په ټولیزه توګه سیالیت لپاره د ټولو بانکونو د سیالیت نسبتونه د افغانستان بانک له حد اقل ټاکل شوي حد څخه( د سیالیت پراخه نسبت ۱۵ سلنه او د سیالیت سریع نسبت ۲۰ سلنه) لوړ قرار لري.

د ۱۳۸۹ کال د کب میاشتې د شمېرو پر بنسټ، په سترو اماناتو کې د بانکي نظام د اماناتو له ډېر تمرکز څخه ( هغه امانات چې له ۵ ملیونو څخه زیات وي) اندیښنې شتون لري. دا ستر امانات د ټولیزه اماناتو شاوخوا ۶۰.۲۸ سلنه جوړوي او له ۵.۰۱۴ حسابونو څخه متشکله ده چې د نقدینه ګی له پلوه ډېر مهم ګڼل کیږي او د اقلامو له فراري بدهیو څخه شمېرل کیږي. سر بېره پردې د سترو اماناتو منځنی حد ۴۷ ملیونه افغانی دی چې د تېرې ربع په پرتله یې ټیټوالی موندلی دی.

## د بهرنیو اسعارو پرانیستی وضعیت

د بانکدارۍ موسسې په مجموع کې د افغانستان بانک د حد اقل ټاکل شوي حدودو سره سم د اسعارو د عمومي پرانیستي وضعیت لپاره (± ۴۰ سلنه) او د اسعارو انفرادي پرانیستی وضعیت لپاره ( ± ۲۰ سلنه) قرار لري، پرته له پنځو بانکونو چې د (ډالرو او یورو) د عمومي او انفرادي پرانیستي وضعیت لپاره یې له ټاکل شوي حد څخه سرغړونه کړې ده.

په لاندې جدول کې د ۱۳۹۰ کال د کب میاشتې د شمېرې له قراره، پوروړي، امانت ایښودونکي او نور مشتریان وړاندې شوي دي:

**(۱۲) جدول**

| ځانګړتیاوې | شمېر |
|---|---|
| کورني کارکوونکي | ۸،۸۰۷ |
| بهرني کارکوونکي | ۱۲۶ |
| مقروضین(پوروړي) | ۵۸،۶۱۰ |
| امانات ایښودونکی | ۲،۲۲۸،۲۵۹ |
| نور مشتریان | ۱،۳۷۳ |

۱۰ــ د نورو مشتریانو شمېر چې بانکي تضمینونه، لیتراف کریډټونه، نور تضمینونه او تعهدات ولري.

## د ریسک منجمنت اداره (مالي خطرات)

له هغه ځایه چې د هېواد په مالي نظام کې د خلکو د اماناتو خوندیتوب د افغانستان بانک دنده ده، نو د افغانستان بانک د مرکزي بانک په توګه په سوداګریزو دواړو (دولتي او خصوصي) بانکونو کې د خلکو د اماناتو حصول او خوندیتوب خپله دنده ګڼي. د افغانستان بانک د مالي خطراتو عمومي مدیریت په ۱۳۹۰ کال کې اغیزناکه فعالیتونه په دې برخه کې ترسره کړي دي.

د سوداګریزو بانکونو د فعالیت د خوندي ساتلو او پیاوړتیا په برخه کې مرسته او همکاري او په مالي نظام کې ثبات او ټیکاو د دویم بازل د طرزالعملونو د پلي کولو له لارې د مالي خطراتو له بنسټیزو دندو څخه شمېرل کېږي چې له امله یې خصوصي بانکونه کولای شي خپل فعالیتونه په سالمه توګه او د خطراتو له کم تهدید سره پر مخ بوځي. له هغه ځایه چې د پانګونې هرې موقع لپاره، خطرات شته دي، له همدې امله د خطراتو له منځه وړل بې له شکه په هیڅ وجه په بشپړه توګه امکان نه لري او یوازې د همدې مدیریت په اړانه کې سوداګریز بانکونه کولای شي خپل خطرات حداقل او یا یې کم کړي.

په همدې کال کې، د مالي خطراتو څارنیز ټیمونو د مالي چارو د څارنې له دیپارتمنټ سره په همغږۍ د څارنیزو برنامو په اړانه کې ټول سوداګریز بانکونه او د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ د هېواد دننه څارلي دي.

د مالي خطراتو او بانکي څارنې په برخه کې تر ټولو فعال نړیوال نهاد په نړۍ کې، د بازل کمیټه (Basel Committee) ده. دا کمیټه د نړۍ د عمده صنعتي هېوادونو د مرکزي بانکونو له یو شمېر لوړ پوړو چارواکو څخه جوړه ده چې د معمول له مخې په هرو درې میاشتو کې یو ځل د تسویې نړیوال بانک لخوا د سویس د بازل په ښار کې جوړېږي. په بازل ښار کې د یادو شویو غونډو د جوړېدو له امله، دا کمیټه د بازل په کمیټه مشهوره شوې ده. د بازل کمیټه قانوني ځواک نه لري، خو ډېری غړي هېوادونه یې په ضمني توګه د لارښونو په اجراء ګمارل شوي دي.

په همدې ترتیب، د مالي خطراتو د پېژندلو او د احتمالي مالي کړکیچ د رامنځته کېدو د مخنیوی په موخه له بانکونو څخه د ترلاسه شوي معلوماتو د شننې او څېړنې له لارې د بانکونو د مالي وضعیت دوامداره څارل او څارنیزو موخو ته د رسیدو په موخه اصلاحي اقدامات تر لاس لاندې نیول د مالي خطراتو د اداري له مهمو دندو څخه ګڼل کېږي. غیر ساحوي څارنه بانکونو ته د دوامداري ارزونې امکان برابروي. په بل عبارت وخت په وخت څارنه کولای شي چې د مالي صورتونو د شننې او څېړنې له لارې او له بانکونو، په خاصه توګه د مسئله لرونکو بانکونو څخه د ترلاسه شویو معلوماتو له لارې د یو چټک اقداماتي سیستم په توګه عمل وکړي. د مالي خطراتو لوی مدیریت په پام کې لري چې په نږدې راتلونکي کې، یوه ستراتیژي د یو میکانیزم د جوړولو په موخه د دویم بازل د طرزالعملونو پلي کولو لپاره وړاندیز کړي، ترڅو یې په اړانه کې سوداګریز بانکونه وکولای شي د پانګې په ډېروالي او زیات اختصاص سره له بالقوه خطراتو څخه مخنیوی او هغه تشخیص کړي او پر وړاندې یې مالي موقف ته پیاوړتیا وبخښي.

## د افغان اماناتو د بیمې اداره

د افغان اماناتو د بیمې اداره ( ADIC ) په سوداګریزو بانکونو کې د خلکو د اماناتو د ملاتړ، د بانکي ثبات د خوندیتوب، د بانکدارۍ په نظام باندې د خلکو د اعتماد، د مالي کړکیچ په مخنیوی کې د ونډې او په اماناتو کې د زیاتوالي په موخه د امانات ایښودونکو تشویق لپاره د وزیرانو شورا د ۱۳۸۷/۹/۴ نېټې د ۴۰ ګڼې مصوبې او د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۳۸۷/۹/۱۲ نېټې تصویب په بنسټ د مرکزي بانک په تشکیل کې جوړه شوه. دې اداري له سوداګریزو بانکونو څخه د مخکې ټاکل شویو کټګوریو او فیصدیو په بنسټ د ۱۳۸۸ کال د وروستی ربعې له پیل څخه تر اوسه د لاندې جدول مطابق حق البیمه وضع کړی ده.

د ۱۳۹۰ کال په ترځ کې د بانکونو له کړنو سره سم د حق البیمې سلنه

**(۱۳) جدول**

| ټاکلې کټګوري CAMEL Rating | ۱۳۹۰ |
|---|---|
| ۱ و ۲ | ۰.۱۵ ٪ |
| ۳ | ۰.۱۸ ٪ |
| ۴ و ۵ | ۰, ۲۳٪ |

حق البیمه ( Premium )په ۱۳۹۰ کال کې په افغانیو په ربعوار ډول وضع شوي

**(۱۴) جدول**

| | |
|---|---|
| لومړی ربع | ۶۵.۵۴۴.۴۸۵ |
| دویمه ربع | ۶۸.۹۶۴.۵۶۲ |
| دریمه ربع | ۶۸۸۱۰۸۶۰ |
| څلورمه ربع | ۷۵.۵۵۳.۲۴۲ |
| د ۱۳۹۰ کال مجموعه | ۲۷۶۸۷۳.۱۴۹ |

د افغانستان بانک



# د تادیاتو نظام

# د تادیاتو نظام

د افغانستان بانک تل هڅه کړی ده چې په ټولو بانکي برخو کې ارزښتناکه او ښه تادیاتي خدمات د ورکړې د سیستم ګډونوالو او هېواد والو ته چمتو کړي او کوښښ يې کړی چې د هېوادوالو تادیاتي خدمات په نړیوالو معیارونو سره د بانکي سکتور او تادیاتي سیستم له لارې ترسره کړي. په همدې موخه د افغانستان بانک په ۱۳۹۰ کال کې د کوچنیو تادیاتي سیستمونو د نښلولو تر لاس لاندې نیوله چې د صرافۍ اتومات ماشینونه، د موبایل له لارې تادیات، د POS ماشینونه چې د توکو د قیمت ورکړې او پیریدل شویو خدماتو لپاره په بازارونو کې ترې ګټه اخیستل کیږي، په دې طرحه کې شامل دي.

همدا ډول نړیوال تادیات، هغه سیستمونه چې د تادیاتو د ترسره کولو لپاره په د افغانستان بانک کې په کار وړل کیږي له درې ګونو بریښنايي سیستمونو څخه رغیدلي دي چې هر یو يې په خپله برخه کې فعالیت کوي. د بانکونو ترمنځ تادیات و د نمایندګیو ترمنځ تادیات سیستمونه په ۱۳۹۰ کال کې په رغنده او منظم ډول فعال وو چې هر یو يې په لنده توګه تر ارزونې لاندې نیول کیږي:

## نړیوال تادیات

په دې برخه کې د سویفټ د نړیوالې شبکې په کارولو سره هغه شمېر معاملې ترسره کیږي چې د معاملې له طرفینو څخه یې یو له افغانستان څخه بهر وي. د دولتي ارګانونو، سوداګریزو بانکونو او نړیوالو ایتلافي ځواکونو معاملې د دې سیستم له لارې ترسره کیږي.

په ۱۳۹۰ هجري لمریز کال کې په ټولیزه توګه (۲۳۴۶) وارده معاملې د (۴،۷۵۳،۲۳۲،۳۶۱.۷۷) امریکايي ډالرو په ارزښت او (۲۳۶۹) صادره معاملې د (۴،۵۷۶،۷۳۲،۹۸۵.۶۶) امریکايي ډالرو په ارزښت د سویفټ د نړیوالې شبکې لخوا اجراء شوي دي.

(۱۷) ګراف




د افغانستان بانک د سویفټ سیستم چې د نړیوالو معاملو د ترسره کولو لپاره کارول کیږي، د ۱۳۹۰ کال په اوږدو کې د ټولو نړیوالو معیارونو په پام کې نیولو سره په بریالۍ توګه تجدید او په تازه اسانتیاوو سره سمبال شوې او ټولې مالي معاملې په نړیوال معیار او ستندرد ترسره کوي.

## د نمایندګیو ترمنځ تادیات

- د (AFTS) بریښنايي سیستم د مرکز او د افغانستان بانک د ولایتي او سرحدي نمایندګیو ترمنځ د معاملو د ترسره کولو په موخه کارول کیږي. هغه معاملې چې په ۱۳۹۰ کال کې د نمایندګیو ترمنځ د تادیاتو په برخه کې ترسره شوي دي د دولتي ارګانونو، سوداګریزو بانکو او د ملي پیوستون د برنامې معاملې رانغاړي.

په ټولیزه توګه په افغانیو معاملې(۸۰۶۱) معاملې د (۴۱،۲۳۲،۸۵۲،۱۵۵.۰۰) افغانۍ په ارزښت دي په داسې حال کې چې (۲۰۵) ډالري معاملې د (۲۰۱،۴۷۲،۱۹۲.۱۷) ډالرو په ارزښت چې په ټولیزه توګه (۴۳۷۳) افغانۍ صادره معاملې د (۵۵،۸۹۷،۹۸۸،۴۷۴.۷۲) افغانۍ په ارزښت او (۱۶۰) ډالري صادره معاملې د (۵۵،۳۳۸،۹۵۸.۱۷) ډالرو په ارزښت د (AFTS) سیستم له لارې ترسره شوي دي.

هغه معاملې چې د نمایندګیو ترمنځ د یاد شوي سیستم په کارولو سره ترسره شوي دي، (۴۳۴۸) افغانۍ معاملې د (۲۵،۵۹۳،۳۹۰،۶۵۷) افغانۍ په ارزښت او (۱۰۵) ډالري معاملې د (۱۰۶،۴۹۷،۰۳۴) ډالرو په ارزښت دي.

## د بانکونو ترمنځ تادیات

د هېواد د مجوزو سوداګریزو بانکونو او مشتریانو معاملې لکه، بانک څخه بانک ته پولي لیږدونې، د دولتي مالیاتو ورکړې او نورو انتقالي معاملې چې د بانکونو ترمنځ صورت مومي د افغانستان د تسویې او تصفیې سیستم(ACSS) په کارولو سره چې د مرکزي بانک لخوا جوړ شوی، طی مراحل او ترسره کیږي. په ۱۳۹۰ کال کې په یاد شوی سیستم کې ترسره شویو معاملو په شمېر او ارزښت کې د پام وړ زیاتوالي راغلی چې د تیرو کلونو په پرتله د پام وړ زیاتوالی درلودلی دی چې دا پخپله په مالي بازارونو کې د بانکي تادیاتو د سیستم اهمیت په ګوته کوي.

هغه معاملې چې په ۱۳۹۰ کال کې د بانکونو ترمنځ د تادیاتي سیستم لخوا ترسره شوي دي (۶۳۹۸۸) افغانی معاملې د ( ۳۹۲،۹۶۲،۶۳۸،۶۳۵.۸۶) افغانی په ارزښت، (۴۰۹۷۶) ډالري معاملې د (۷،۳۶۲،۳۴۸،۵۰۰.۷۳) امریکایي ډالرو په ارزښت او (۱۳۳۵) د یورو معاملې د ( ۶۸،۰۱۴،۷۸۸.۰۶) یورو په ارزښت ترسره شوي دي. باید یادونه وکړو چې افغانی معاملې د ډالرو د معاملو په وړاندې مخ په زیاتیدو دي، د دې زیاتوالی پایله د هېواد په بازارونو کې د افغانی د دود (ترویج) په برخه کې د افغانستان بانک فعالیتونه په ګوته کوي.

(۱۸) ګراف د ۱۳۹۰ کال د معاملو کچه په ربعوار ډول ښکاره کوي




د بانکونو ترمنځ معاملې د تادیاتو د سیستمونو له جوړیدو سره په کلنی ډول صعودي بهیر لري، په دې معنی چې له یوې خوا د غیر نقدي ورکړې فرهنګ د پراختیا په حال کې دی او له بلې خوا پولي راکړه او ورکړه د بانکي خدماتو تر پوښښ لاندې تر سره کیږي

(۱۹) ګراف




## د چکونو د تسویې برخه

چک په هېواد کې یو له تادیاتي وسایلو څخه شمېرل کیږي چې ډېری د مالیې وزارت، سوداګریزو بانکونو، شرکتونو او مالي مؤسسو لخوا کارول کیږي. غیر نقدي چکونه چې د نورو اشخاصو او شرکتونو په نوم د ګټې اخیستونکو لخوا صادریږي، د تسویې او تصفیې غوښتنه کوي تر څو د اړوند چک مبلغ وروسته له بررسی د هغه د حساب اخیستونکي په وجه کې جمع شي. د افغانستان بانک د تسویې او تصفیې سیستم چې د بین البانکی تادیاتو په اړانه کې فعالیت کوي او د ۱۳۹۰ کال په اوږدو کې یې (۳۳۹۲) افغانی چکونه د (۹۲۳،۲۹۳،۵۴۰.۹۵) افغانی په ارزښت او (۵۶۰۰) ډالري چکونه د (۴۸،۳۵۰،۱۶۲.۵۰) امریکایي ډالرو په ارزښت او (۳۱) د یورو چکونه د ( ۲۸۷،۶۳۲) یورو په ارزښت طی مراحل او تصفیه کړي دي.

# د افغانستان بانک

# د بازار عملیات



# د بازار عملیات

د افغانستان بانک بهرنۍ شتمنۍ د ۱۳۹۰ کال په پیل کې ۵.۳۷۳ ملیارده امریکایي ډالره وه چې د ۱۳۹۰ کال د کب په ۲۹ نېټه ۶،۲۵۹ ملیارده امریکایي ډالرو ته ورسیده. د پورته مورد په پام کې نیولو سره، یاد شویو مبلغونو ترمنځ توپیر د مرکزي بانک په پورتفولیو (بهرنیو اسعارو ټوکرۍ) کې ۸۸۶ ملیونه امریکایي ډالره زیاتوالی تر سترګو کیږي. اصلاً د مرکزي بانک په پورتفولیو کې د شتمنیو زیاتوالی ۳.۴۸۶ ملیارده امریکایي ډالرو ته رسیدلی دی. د افغانستان بانک د پولي پالیسیو د تطبیق او د افغانۍ د لا ثبات په موخه د ۱۳۹۰ کال له پیل (د ۲۰۱۱ کال د مارچ له ۲۰ مې) څخه د ۱۳۹۰ کال د کب د میاشتې تر ۲۹ مې ( د ۲۰۱۲ کال د مارچ ۱۹) نېټې پورې ۲.۶ ملیارده امریکایي ډالره لیلام (Auction) کړي دي.

د افغانستان بانک د ۱۳۹۰ کال له پیل څخه د کب تر ۲۹ نېټې پورې شاوخوا (اتلس ملیونه او شپږ سوه پنځوس زره امریکایي ډالره) د میعادي اماناتو د پانګې اچونې له لارې ګټه کړې ده. سر بېره پردې، شاوخوا ۱۵.۰۰ ( پنځلس ملیونه امریکایي ډالره) یې په ۱۳۹۰ کال کې له نړیوال بانک سره د RAMP په پروګرام کې د پانګې اچونې له لارې لاسته راوړي دي. له همدې امله د افغانستان بانک ټولیزه ګټه د ۱۳۹۰ کال له پیل څخه د همدې کال د کب تر ۲۹ نېټې پورې ( درې دیرش ملیونه او شپږ سوه پنځوس زره امریکایي ډالرو) ته زیاته شوې ده. د افغانستان بانک ګټه په ۱۳۹۰ کال کې د ۳۵ ملیونه امریکایي ډالره اټکل شوې ګټې په پرتله د ښه تر سترګو کیږي.

د افغانستان بانک د پېژندل شویو معامله لرونکو بانکونو سره د بانکي حسابونو تر ټولو ښه او لوړه درجه ګټه لري.

## بيه لرونکو پاڼې ( کپیټل نوټ)

د ۱۳۹۰ کال له پیل څخه تر ۱۳۹۰/۱۲/۲۹ نېټې پورې په اونۍ کې یو ځل د دې اداري لخوا د بيه لرونکو پاڼو لیلام په لاره اچول شوې چې په ترڅ کې ۲۸ ورځنې او ۱۸۲ ورځنې بيه لرونکې پاڼې لیلام شوې دي. په یاد شوي وخت کې په ۲۸ ورځني کپیټل نوټ کې په ټولیز ډول ۳۸،۷۸۰،۰۰۰،۰۰۰ افغانۍ او په ۱۸۲ ورځني کپیټل نوټ کې په ټولیزه توګه ۸۲،۰۸۲،۰۰۰،۰۰۰ افغانۍ لیلام شوي دي او په لیلام کې بریالي بانکونو ته د بازار عملیات لخوا د دواړو ډولو کپیټل نوټونو د لیلام له امله ۶۹۴،۳۴۰،۵۷۱.۰۲ افغانۍ ټکټانه ورکړل شوې ده.

(۲۰) ګراف




د ۱۳۹۰ کال په اوږدو کې د شپې د ډیپوزټونه ( Overnight Deposit Facility) کچه چې د سوداګریزو بانکونو لخوا د افغانستان بانک سره اېښودل کیږي، ۴،۰۰۷،۶۲۵،۵۲۳ افغانۍ ته رسیږي او له دې امله د بازار عملیات مدیریت ۴۹،۱۰۶،۵۳۰.۷۹ افغانۍ ټکټانه امانات اېښودونکو ته ورکړې ده.

(۲۱) ګراف




همدا ډول په همدې موده کې د افغانستان بانک سره د سوداګریزو بانکونو د اجباري زیرمو (Required Reserve) له امله ۱۴۰،۱۵۸،۰۵۹ افغانۍ ټکټانه سوداګریزو بانکونو ته تادیه شوې ده.

## لیتراف کریډټونه:

د ۱۳۹۰ کال په اوږدو کې شاوخوا (۲۶) وارداتي لیتراف کریډټونه د وزارتونو او نورو دولتي ارګانونو د اړتیا وړ سامان الات او تجهیزاتو د واردولو په موخه له بهرنیو او کورنیو کمپنیو څخه د مالیې وزارت په موافقه له عادي او پرمختیایي بودجې څخه د اړوند کمپنیو په وجه د بهرنیو او کورنیو معامله لرونکو بانکونو له لارې د لاندې اسعارو په تفکیک پرانېستل شوي دي:

په ټولیزه توګه ۱۰۱،۲۰۵،۶۱۹ امریکایي ډالرو په کچه لیتراف کریډټونه په ډالرو پرانیستل شوي.

رر رر یورو رر رر رر -/۶۲۲،۳۵۷ یورو

رر رر افغانی رر رر رر -/۷۱۹،۰۱۰،۳۹۸ افغانی

(۶۰۰) پیغامونه د معامله لرونکو بانکونو په سرلیک(عنوان) د سویفټ له لارې او (۵۰۰) قطعې مکتوبونه د اړوندو وزارتونو په سرلیکونو(عنوانونو) د لیتراف کریډټونو په برخه کې لیږدول شوي، باید زیاته کړو هغه مبلغونه چې د لیتراف کریډټ د پرانیستنې په موخه د مالیې وزارت او دولتي ارګانونو له حسابونو څخه د پرانیستنې پر وخت اخیستل کیږي د لیتراف کریډټونو د ریزرف کوډ ته لیږدول کیږي له هغه ځایه چې کریډټونه د وخت په قیدولو سره د ورکړې وړ وي اکثراً تر ډېرې مودې موعد لري او شتمنی یې د افغانستان بانک سره پاتې کیږي چې دا کار په خپله د افغانستان بانک د ریزرف کچه پورته کوي.

### د بهرنیو اسعارو لیلام ( آکشن)

په ۱۳۹۰ کال کې د اسعارو لیلام له عمومي رخصتیو پرته، بې له وقفې د شنبې او سې شنبې په ورځو کې ترسره شوي دي. په دې لیـــــلام کې په ټولیـــــزه توګه ( ۲،۶۸۴،۹۰۰،۰۰۰ ) ډالره په سوداګریزو بانکونو او مجوزو صرافانو باندې پلورل شوي دي چې د ۱۳۸۹ کال په پرتله د بهرنیو اسعارو په لیلام کې ۱۰۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د اړوندو حسابونو تصفیه د بین البانکی سیستم له مخې ترسره شوی ده.

سربېره پردې د بلخ برښنا د حوزې د اړتیا وړ ډالر چې د افغانستان بانک د سیمه ایز شمالي زون (مزار شریف) له لارې تادیه شوي دي، کچه یې په ۱۳۹۰ کال کې په ټولیزه توګه (۱۳،۱۴۲،۲۶۲.۲۹ ) ډالرو ته رسیدلی ده.

# د افغانستان بانک

# مالي صورت

# حساب



# مالي صورت حساب

د ۱۳۹۰ کال د کب ۲۹ نیټه( ۲۰۱۲ د مارچ ۱۹)

| | یادداشت | ۱۳۹۰ ارقام په زر افغانی "۰۰۰" | ۱۳۸۹ ارقام په زر افغانی "۰۰۰" |
|---|---|---|---|
| **شتمنی** | | | |
| د سرو زرو زېرمې | ۲ | ۵۷،۶۳۳،۶۰۴ | ۴۵،۲۳۱،۵۷۲ |
| د بهرنیو اسعارو نقدي ذخیرې | ۵ | ۱۵،۸۳۰،۷۳۶ | ۸،۶۸۳،۵۲۰ |
| پر بانکونو او مالي موسساتو طلب | ۶ | ۱۷۲،۷۸۴،۴۵۸ | ۱۳۱،۷۹۳،۸۷۹ |
| د بیلونو ټریژري(د دولتي لنډ مهاله پورونو اسناد) | ۷ | ۶۲،۱۷۵،۸۸۷ | ۵٦،۸۳۸،۲۰۹ |
| طلبات د پور ورکوني د وروستي مرجع په توګه | ۸ | ۳۴،۲۵۸،۴۱۸ | - |
| طلبات او نور د حصول وړ حسابات | ۹ | ۸۵۴،۹۲۴ | ۸۱۰،۴۲۱ |
| پانګه اچول شوي ملکیتونه | ۱۰ | ۹،۰۰۰ | ۹،۰۰۰ |
| جایدادونه او تجهیزات | ۱۱ | ۴،۶۳۴،۹۸۷ | ۴،۵۶۶،۹۹۹ |
| ناملموسه شتمنی | ۱۲ | ۴،۱۶۰ | ۱۰،۹۸۳ |
| نوري شتمنی | ۱۳ | ۱۲،۵۸۲،۴۲۹ | ۱۲،۵۹۳،۱۸۸ |
| د شتمنیو مجموعه | | ۳۶۰،۷۶۸،۶۰۲ | ۲۶۰،۵۳،۷۷۱ |
| **ورکړې مکلفیتونه او د پانګې سهمیه (اکویتی)** | | | |
| **ورکړې** | | | |
| په دوران کې پیسې | ۱۴ | ۱۴۸،۰۵۵،۸۰۰ | ۱۳۲،۴۴۲،۴۱۸ |
| کپیټل نوټ ( ارزښتناکه اسناد) | ۱۵ | ۳۰،۷۴۹،۸۹۹ | ۱۵،۹۷۲،۵۴۰ |
| د نورو بانکونو او مالي موسساتو طلبات | ۱۶ | ۳۸،۳۲۳،۹۲۸ | ۲۶،۹۱۹،۳۳۶ |
| مشتریانو ته د تادیې وړ | ۱۷ | ۷۸،۷۳۴،۳۹۳ | ۶۱،۸۴۰،۰۶۳ |
| ورکړې( ای . ام . اف ) | ۱۸ | ۳۲،۲۶۸ | ۳۵،۵۱۱ |
| د متقاعدینو حقوق | ۱۹ | ۱،۶۸۷،۳۱۶ | ۱،۳۹۱،۴۰۹ |
| ځنډول شوي مرستې | ۲۰ | ۳۴،۲۹۷ | ۵۲،۷۶۹ |
| تدارکات(پروېژنونه) او نور د ورکړې مکفیتونه | ۲۱ | ۸،۰۴۲،۴۴۸ | ۸،۱۰۱،۷۶۷ |
| د ورکړې مجموعه | | ۳۰۵،۶۶۰،۳۴۹ | ۲۴۶،۷۵۵،۸۱۳ |
| **پانګه( اکویتی )** | | | |
| **پانګه** | | | |
| بیا ارزښت موندونکی زېرمې | ۲۲ | ۸۹۲،۲۹۷ | ۳۲،۸۲۷،۵۱۵ |
| متراکم زیانونه | ۲۲ | ۵۴،۲۱۵،۹۵۴ | ۴۶،۶۰۹،۴۷۳ |
| د خالصي پانګې مجموعه | ۲۲ | - | - |
| | | ۵۵،۱۰۸،۲۵۲ | ۱۳،۷۸۱،۹۵۸ |
| د ورکړې او خالصي پانګې مجموعه | | ۳۶۰،۷۶۸،۶۰۲ | ۲۶۰،۵۳۷،۷۷۱ |

له یو څخه تر ۳۵ شمېرې پورې ضمیموي یادداشتونه د دې مالي صورت حساب اساسي برخې جوړوي

احمد منیر نوید
د مالي لوی آمریت مرستیال او سرپرست

خان افضل هډه وال
د افغانستان بانک لومړی مرستیال

نورالله دلاوری
د افغانستان بانک لوړی رییس

# د عوایدو صورت حساب

## د ۱۳۹۰ کال د کب ۲۹ نیته( ۲۰۱۲ د مارچ ۱۹)

| | یادداشت | ۱۳۹۰<br>ارقام په زر افغانی "۰۰۰" | ۱۳۸۹<br>ارقام په زر افغانی"۰۰۰" |
|---|---|---|---|
| تکتاني عواید | ۲۳ | ۲،۲۶۸،۲۸۷ | ۱،۲۸۵،۸۰۷ |
| د تکتاني مصارف | ۲۴ | (۸۸۳،۶۴۰) | (۶۱۶،۷۸۰) |
| د تکتاني خالص عاید | | ۱،۳۸۴،۶۴۷ | ۶۶۹،۰۲۷ |
| د فیس او کمیشن عاید | | ۱۶۰،۱۸۷ | ۱۲۷،۰۶۹ |
| د فیس او کمیشن مصارف | | (۹۹،۷۴۴) | (۱۱۴،۶۸۸) |
| دفیس او کمیشن خالص عاید | | ۶۰،۴۴۳ | ۱۲،۳۸۱ |
| د بهرنیو اسعارو د تبادلې له امله گټه/ تاوان | | ۵،۴۱۰،۶۲۳ | (۳،۲۳۵،۰۳۸) |
| د مالي شتمنیو د پلور له درکه خالص زیاتوالی | | ۱۱۹،۳۳۷ | ۳۳۹،۱۱۱ |
| نور عملیاتي عواید | ۲۵ | ۸۲،۷۵۱ | ۱،۳۵۱،۷۳۶ |
| | | ۵،۶۱۲،۷۱۲ | (۱،۵۴۴،۱۹۱) |
| عملیاتي عواید/ مصارف | | ۷،۰۵۷،۸۰۲ | (۸۶۲،۷۸۳) |
| د کارکوونکو مصارف | ۲۶ | (۸۴۰،۴۴۲) | (۶۳۱،۵۴۰) |
| د بانکنوټونو د چاپ مصارف | ۲۷ | (۱۲۹،۹۸۳) | (۲۳۷،۴۳۶) |
| نور مصارف | ۲۸ | (۲۲۴،۰۰۱) | (۱۶۳،۵۴۰) |
| د تنقیض شویو مامورینو مصارف | | (۳۴،۲۸۳) | (۵۴،۰۴۱) |
| د مرستو لگښت د پور ورکونې د وروستی مرجع په توگه | ۸ | ۱۸،۱۰۸،۲۵۰ | (۱۸،۱۰۸،۲۵۰) |
| د ساختمان په بیا ارزښت کې کموالی | ۱۱ | - | (۲۴۳،۵۲۷) |
| استهلاک یا فرمایشونه | ۱۱ و ۱۲ | (۵۹،۵۳۷) | (۱۲۶،۱۴۱) |
| خالص عملیاتي تاوان | | ۲۳،۸۷۷،۸۰۷ | (۲۰،۴۲۷،۴۲۲) |
| د تبادلې نرخ کې غیر حقیقي گټه او تاوان | | ۹،۸۴۲،۰۰۶ | (۵،۰۳۳،۱۳۸) |
| کلنی تاوان | | ۳۳،۷۱۹،۸۱۲ | (۲۵،۴۶۰،۵۶۰) |

له یو څخه تر ۳۵ شمیرې پورې ضمیموي یادداشتونه د دې مالي صورت حساب اساسي برخې جوړوي

| احمد منیر نوید | خان افضل هده وال | نورالله دلاوری |
|---|---|---|
| د مالي لوی آمریت مرستیال او مدیریت | د افغانستان بانک لومړی مرستیال | د افغانستان بانک لوی رئیس |

# د افغانستان بانک

## اداره او پراختیا



# اداره او پراختیا

## ۱– د حقوقي مشاوریت دفتر:

۱–۱ د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۳۹۰ کال د سلواغې د ۸ او ۹ نېټې په غونډه کې د بانکدارۍ په قانون کې د تعدیلاتو منظوري.

۱–۲ د افغانستان بانک د عالی شورا د ۱۳۹۰ کال د سلواغې د ۸ او ۹ نېټې په غونډه کې د اسلامي بانکدارۍ د مسودې منظوري او نورو کارونو لپاره د عدلیې وزارت ته وړاندې کول.

۱–۳ د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۳۹۰/۵/۲ نېټې د ۱۴ ګڼې تصویب پر اساس د افغان اماناتو د بیمې قانون منظوري او نورو کارونو لپاره د عدلیې وزارت ته سپارل.

۱–۴ د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۳۹۰/۵/۱ نېټې د ۹ ګڼې تصویب پر اساس د پولي خدماتو په مقرره کې د تعدیلاتو منظوري.

۱–۵ د افغانستان بانک د عالي شورا د منظورۍ په موخه، د اسلامي بانکدارۍ له قانون سره د بانکدارۍ قانون د مسودې یو ځای کول او د همدې مسودې د نهایي متن برابرول.

۱–۶ د پیسو له تطهیر سره د مبارزې د قانون او د تروریزم له تمویل سره د مبارزې د قانون تعدیل او د نورو کارونو په موخه د عدلیې وزارت ته د تعدیلاتو لیږدول.

۱–۷ د افغانستان بانک د پانګې د نوي کولو په موخه د افغانستان بانک او وزارت مالیې ترمنځ د موافقتنامې د مسودې نهایي کول.

۱–۸ له عدلیې وزارت سره په ځانګړې توګه د منقولو او غیر منقولو اموالو د رهن په قوانینو کې د لازمه تعدیلاتو په برخه کې همکاري.

## ۲– بشري منابع:

د بشري منابع لوی آمریت د ورسپارل شویو دندو مطابق د ۱۳۹۰ کال په اوږدو کې لاندې کارونه ترسره کړي دي:

- ټولو کارکوونکو ته د موخو ټاکلو د فورمو پېژندل، لیږل او ورڅخه راټولول.
- د ۱۳۸۹ کال د کارکردګیو د ارزونې د لړۍ پلي کول.
- کارکوونکو ته د اصولو یا کاري روشونو لیږل.
- د افغانستان بانک عامل پلاوي لپاره د ارزونې د فورمو د ډیټابیس ډیزاین.
- ټولو کارکوونکو ته د ۱۳۸۹،۱۳۸۸.۱۳۸۷ کلونو د سټیپونو اجراء کول.
- د کړنو او کارکردګیو د ارزونې د نوي فورمو ترتیبول.
- په ۱۳۹۰ کال کې ۱۲۲ تنه کارکوونکي په مختلفو برخو کې د کارمند، کارګر، خانه سامان او ډریور په شمول، نوي په دنده ګمارل شوي دي.
- ۳۷ تنه کارکوونکي په مختلفو لاملونو د افغانستان بانک له بست څخه منفک شوي دي.
- ۳۷ تنه کارکوونکي له مرکز او نمایندګیو څخه تنقیص شوي او د منظور شوي امتیاز له اخیستلو وروسته یې له بانک سره خدای په اماني کړې.
- د بیه لرونکي، نا بیه لرونکي او پرسونلي بودجې د تشکیل طرح او ترتیب.
- څو ځل د مرکو او لیکنیزو ازموینو په لار اچول.
- د افغانستان بانک ۸۰۰ تنو څخه زیاتو متقاعدینو ته د معاشونو وېشل.
- په کارتوتیک سیستم سره د متقاعدینو د معاش ورکولو دفترونه په نوي بڼه جوړول.
- د افغانستان بانک د متقاعدینو په معاشونو کې د زیاتوالي اجراء.
- د افغانستان بانک کارکوونکو ته د زده کړه ایزو کورسونو یعنې، ۳۰ کورني کورسونه ۴۷۱ کارکوونکو لپاره او ۹۲ بهرني کورسونه ۱۸۸ کارکوونکو لپاره په لار اچول.

## ۳-خدمات او وداني

د سرپل، پکتیا، دایکندي، غور، نیمروز، د ختیځ سیمه ایز زون، هلمند، پلخمري، بدخشان او تخار ولایتونو کې د افغانستان بانک د نمایندګیو د ودانیو ترمیمول او بیا رغول او د شمال شرق زون د وداني د قرارداد موافقه کول.

همدارنګه د افغانستان بانک روغتیایي کلینیک په ۱۳۹۰ کال کې د مرکزي بانک او اړونده ښاري څانګو (۸۷۵۲) تنه کارکوونکي او د هغوی د کورنی غړي معاینه، درمل او پانسمان کړي دي او په دې برخه کې یې (۳۰۵) قلمه مختلف النوع درمل په ۷۸۳۳۴۱ افغانیو او د روغتیایي کلینیک د اړتیا وړ یو شمیر طبي سامان الات چې ټولیز قیمت یې ۲۹۷۰ افغانی کیږي د مرکزي بانک د ناروغه کارکوونکو درمل لپاره یې پیرودلي دي.

د مصرف شویو درملونو ټولیز قیمت ۷۸۴۶۳۳.۲۶ افغانی کیږي چې په مصرف شوي مبلغ کې یو اندازه درمل د ۱۳۸۹ کال څخه هم پاتې دي.

| | | |
|---|---|---|
| ۱. د ناروغانو شمېر | ۸۷۵۲ | تنه |
| ۲. د پیریدل شوي درمل کچه | ۳۰۵ | قلمه |
| ۳. د پیریدل شوي درمل قیمت | ۷۸۳،۳۴۱ | افغانی |
| ۴. د طبي سامان الاتو قیمت | ۲۹۷۰ | افغانی |

د ۱۳۹۰ کال تر پای پورې د مصرف شویو درملونو ټولیزه قیمت ۷۸۴،۶۳۳.۲۶ افغانی

**د عامه اعتباراتو د ثبت اداره**

د عامه اعتباراتو د ثبت اداره چې موخه یې په بانکي معاملو کې ذیدخلو اشخاصو ترمنځ د متقابل اعتماد ټیکاو دی د نړیوالې تخنیکي مؤسسې (IFC) په همکاری او مرسته چې د نړیوال بانک یوې مهمه برخه ده، جوړه شوی ده.

د منقولو تضميناتو د ثبت د سیستم یا سافټ ویر د جوړیدو په موخه چې د Paradigm Application کمپنی لخوا به په خو میاشتو کې بشپړ شي او همدا ډول د تضمینونو د ثبت د اداري کارکوونکو او غړو لپاره د یاد شوي سیستم په برخه کې یو پنځه ورځینی زده کړه ایز کورس د متحده عربي اماراتو په هېواد کې د IFC مؤسسې لخوا په لاره اچول شوی دی.

د وسایلو یا هارډ ویر او د سیستم د نصبولو په رابطه، اړوندې څانګړتیاوې د Paradigm Application کمپنی لخوا ترتیب او د مالي ټینګښت پروژې (FSSP) په لاس کې ورکړل شوي.

د عامه اعتباراتو د ثبت مدیریت د نړیوال بانک لخوا تمویل شوی او تیارونه او تدارکات یې د مالي ټینګښت پروژې( FSSP ) لخوا صورت مومي.

## ۴-معلوماتي تکنالوژي

- د CBS سیستم چې مخکې د هندي شرکت لخوا کنټرول او څارل کیده په ۱۳۹۰ کال کې د معلوماتي تکنالوژۍ مدیریت د پوستکالي( نرم افزار) د برخې په واک کې ورکړل شو چې له بشپړ مصونیت څخه برخمن دی.
- د CBSسیستم د افغانستان بانک په ټولو نمایندګو کې نصب او د پوستکالي (نرم افزار) ټیم لخوا جدي کنټرول کیږي.
- د افغانستان بانک په داخلي شبکه کې د معلوماتو شریکول د Fileshaving . FTP لخوا او د هغه د کاري ظرفیت لوړول چې د مسؤلیت ساحه یې د هر ډیپارټمنټ اړوند د یوې ځانګړې دایرکتورۍ په داخل کې وي، تنظیم شوی دی چې فلش او نور بیروني ابزارونه نه قبلوي.
- د سویفټ سیستم چې مخکې په ۶.۳ ورژن کې قرار درلوده د سویفټ د ظرفیت لوړولو لپاره په ۷ ورژن باندې بدل شو.
- د افغانستان بانک ټول پوستکالي (نرم افزارونه) لکه: AFTS, ACSS، سویفټ، راکد حسابونه، CLEARING HOUSE، FTP, E – MAIL, WEBSITEاو داسې نور هر وخت تر جدي مراقبت لاندې دي د ستونزې د راپیدا کیدو په صورت کې ډېر ژر اقدام صورت مومي.
- د افغان تیلی کام نوري فایبر شبکې له نصب او نښلول سره د افغانستان بانک په ۱۸ نمایندګیو کې د CBS سیستم د بانکي معاملو له سیستم سره توانیدلی دی چې د اړوندې نمایندګی له ټولو فعالیتونو څخه څارنه وکړي او هم د ګرندیتوب په موخه په ټولو ښاري څانګو کې په یاد شوي سیستم کې یو کنکشن بکاپ فعال شوی دی.

د معلوماتي تکنالوژۍ لوی مدیریت خپلو کارکوونکو ته د سیسکو، شبکې، مایکروسافټ، وینډوز او سرور په برخو کې له هېواد څخه بهر ټرېننګ ورکړی دی، همدا ډول د نجات سیستم DISASTER RECOVERY په دوامداره توګه فعاله ده چې د DELL سرورونه، د سیسکو سوچونه، سیسکو روټر او همدا ډولCONNECTIVITY په بر کې نیسي. ټول لازم سخت افزارونه په عربي متحده اماراتو (دبی) کې فعالیت کوي او REPLICATION Real Time فعالول د مرکزي دفتر د ډېټا سنټر او مرکز تر منځ له افتونو خوندي دی.





معرفی محترم نور الله دلاوری بحیث رییس کُل د افغانستان بانک



جلسه شورای عالی د افغانستان بانک



کنفرانس مطبوعاتی عقد قرار داد ها به پول افغانی



محفل ثبت دارایی های کارمندان عالی رتبه د افغانستان بانک



کنفرانس مطبوعاتی هیئت عامل د افغانستان بانک به منظور لیلام اسعار










